انټرنېشنل جنرل آف

# پښتونخوا

جلد ځلورم،جنوري/جون ۲۰۱۸ء



په پښتو او انګريزۍ ژبه کښې د باچاخان چئير

عبدالولي خان پوهنتون

شپږمياشتنۍ ګڼ اړخيز تحقيقي جرنل

ISSN: (Online)

ISSN: 2519-7096 (Print)

**انټرنیشنل جنرل آف**

# پښتونخوا

**په پښتو او انګرېزۍ ژبه کښې د باچاخان چئیر عبدالولي خان پوهنتون**

**شپږ میاشتنۍ ګڼ اړخیز تحقیقي جرنل**

**شماره نمبر**:4 **جنوري – جون**2018

**باچاخان چئیر**

## عبدالولي خان پوهنتون

**خیبرپښتونخوا(پاکستان)**

**سرپرست اعلي**
پروفېسر ډاکټر خورشید خان
وائس چانسلر
عبدالولي خان یونیورسټي مردان

**مدیر**
ډاکټر محمد سهېل
سیکرټري باچاخان چیئر
عبدالولي خان یونیورسټي مردان

**معاون مدیران**
ډاکټر سید ظفر الله بخشالي
ډاکټر نصرالله خان

**نائب مدیر**
اثر جان

# مجلس انتظامي


سرپرست اعلي: پروفېسر ډاکټر خورشيد خان
وائس چانسلر
عبدالولي خان پوهنتون مردان

مدير: (1)ډاکټر محمد سهېل خان
سکرټري، باچا خان چيئر عبدالولي خان پوهنتون
مردان
msohail@awkum.edu.pk

نائب مدير: اثر جان
پښتو څانګه عبدالولي خان پوهنتون

پبليکيشن آفېسر:

کمپوزنګ سيکشن: اثر جان (پښتو)
(انګلش)



بيغه: 300 روپۍ

پبلشر: باچا خان چيئرعبدالولي خان پوهنتون
يونيورسټي مردان

## مجلس ادارت



| | |
|---|---|
| ډاکټر جهانزيب خان خليل<br>ډين آف سوشل سائنس<br>عبدالولي خان يونيورسټي مردان<br>Jehanzeb.regi@gmail.com | ډاکټر حافظ محمد انعام الله<br>اېسوسيټ پروفېسر، آئي اي آر<br>يونيورسټي آف پېښور |
| ډاکټر سيد راشد علي<br>چيئرمېن، ډيپارټمنټ آف<br>سوشيالوجي<br>عبدالولي خان يونيورسټي مردان<br>Syed.rashid@gmail.com | پروفېسر ډاکټر رسول خان<br>انسټيټيوټ آف کېميکل سائنس<br>يونيورسټي آف پېښور |
| ډاکټر عبدالشکور<br>ډيپارټمنټ آف انټرنېشنل ريلېشن<br>عبدالولي خان يونيورسټي مردان | ډاکټر ناصر<br>ډيپارټمنټ آف انفارمېشن<br>ټېکنالوجي<br>يونيورسټي آف انجينئرنګ اينډ<br>ټېکنالوجي پېښور |
| پروفېسر ډاکټر نصر الله خان وزير<br>ډائريکټر<br>پښتو اکيډمي پېښور پوهنتون | پروفېسر ډاکټر نصيب الله سيماب<br>پښتو څانګه کوئټه بلوچستان<br>Nseemab902@gmail.com |
| ډاکټر بادشاه روم<br>(علي خېل درياب)<br>چيئرمين پښتو څانګه ملاکنډ<br>پوهنتون | ډاکټر محب وزير<br>ډائريکټر پختونخواسټډي سنټر<br>باچا خان يونيورسټي چارسده |

# مجلس ادارت قومي


| | |
|---|---|
| ډاکټر سيد وقار علي شاه<br>ډين آف سوشل سائنس<br>قائداعظم يونيورسټي اسلام آباد | ډاکټر خادم حسين<br>ډائرېکټر<br>باچا خان ټرسټ ايجوکېشن<br>فاؤنډېشن پېښور |
| ډاکټر ناصر جمال خټک<br>وائس چانسلر<br>يونيورسټي آف هري پور | ډاکټر سلمي شاهين<br>سابقه ډائرېکټر، پښتو اکيډمي<br>پېښور يونيورسټي |
| ډاکټر فضل رحيم مروت<br>وائس چانسلر<br>باچا خان يونيورسټي چارسده | ډاکټر ياسين اقبال يوسفزے<br>چيئرمين، ډيپارټمنټ آف فيزکس<br>پېښور يونيورسټي<br>dryaseeniqbal@yahoo.co.uk |

# مجلس ادارت بین الاقوامي



| | |
|---|---|
| ډاکټر عبدالکریم خان<br>چیئرمېن ډیپارټمنټ آف آیشین سټډیز<br>یونیورسټي آف ماناوا ،<br>هوائي، یونائټډ سټېټ<br>khana@hawail.edu | ډاکټر موکولیکه بېنرجي<br>اېسوسي اېټ پروفېسر<br>سکول آف اکنامکس، لندن<br>یونائټډ کنګډم<br>m.banerjee@lse.ac.uk |
| ډاکټر عبدالظاهر شکیب<br>سینئر ریسرچ آفېسر<br>علوم اکیډمي کابل، افغانستان<br>zahirshakeeb@gmail.com<br>zahirshakeeb@asa.gov.af | ډاکټر فدا محمد<br>ډیپارټمنټ آف سوشیالوجي<br>یونیورسټي آف نیویارک<br>fida.mohammad@oneonta.edu |
| ډاکټر خلیل الله ارمړ<br>اکېډمي آف سائنس<br>کابل افغانستان<br>Khalil.ormar@asa.gov.af | ډاکټر سید محي الدین هاشمي<br>سینئر ریسرچ آفېسر<br>ډیپارټمنټ آف پشتو ، کابل<br>یونیورسټي افغانستان<br>m.hashimi@asa.gov.af |

# فهرست



| شماره | عنوانات | مصنف | صفحه |
|---|---|---|---|
| 1 | د ابراهیم رومان په شاعرۍ کښې تصوف | ایاز الله ترکزے | 1-12 |
| 2 | پښتو ناول کښې د اپوریا تجزیه | محمد انور خان<br>فېصل رحمان | 13-27 |
| 3 | د پښتو ژبې لرغونې رېښې | اثر جان | 28-34 |
| 4 | دَ رحمان بابا اؤ میر تقي میر دَ عشق تصور | ډاکټر نصرالله خان | 35-53 |
| 5 | د زېتون بانو جنسي افسانې یوه درې افسانې-موضوع | زر محمد سنګر<br>نورالامین یوسفزے | 54-68 |

# دَ ابراهیم رومان په شاعرۍ کښې تصوف

Ayaz Ullah Tarakzai*

**Absract:**

Mysticism is a worldwide subject for inward purification through religious practices. The significance of these practices is sometimes described in the form of poetry verses. In Pashto literature, the renowned figures of Pashto literary world include Rahman Baba, Khushal Khan Khattak, Abdul Hameed Baba and Hamza shinwari. These poets have written on mysticism via poetic verses to teach the significane of Mystic preachings. Mysticism has been an active movement as Roshinite movement in the history of Pashto literature. This research article is entitled to expalain the study of mysticism through Ibrahim Roman's poetery.

Key words: Mysticism, Purification, virtue, physique, mystic practices and disciple.

دَ پښتو په شاعرۍ کښې تصوف روښاني مکتب ځاې کړو، دغسې دَ کلاسک نه راواخله تر دې دمه پورې دَ پښتو دَ شاعرۍ لمن تصوف دومره فراخه کړه، چې اندازه لګول ئې هم ممکن نۀ دي، دَ تصوف په دغې مېدان کښې زما یو ملګري شاعر ابراهیم رومان زغل کړې دے، چې خپل دا قسمه اشفار ئې په تیت پرک نوم کتاب کښې راټول کړي دي، هغه تاسو ته وړاندې ږدم خو اول دَ تصوف په بابله دَ پوهانو او عالمانو

* Mphil Scholars Pashto Academy University of Peshawar

رائے ستاسو وړاندې ږدم چې دَ تصوف په معني او مفهوم تر څۀ حده اورسو۔

"دَ تصوف معني دَ لغت په اعتبار سره دَ ذکر ده او صاحب المفردات ئې دَ صوف نه مشتق ښائي، صوف يو قسم له بوټي هم دے چې دَ يو خاص خصوصيت لرلو په وجه ئې صوفيان دَ چېلې ويستلو په دوران کښې خوري له دې کبله دې بوټي ته دَ صوفيه نسبت کېږي ، بعضې صوف دَ وړۍ معني ښائي ، دَ الله تعالي هغه مخلوق چې ذکر کثرت سره کوي، هغوي اکثر دَ وړۍ جامې اغوندي په دې وجه دغې جامو ته صوفيه وئيلې شي ، دَ بعضې خلقو په نيز دا لفظ دَ صفا نه مشتق دے او صوفيه ته دَ قلب دَ صفائۍ په وجه صوفيه وئيلې کېږي. څۀ خلق دا ټکې دَ الصفت نه ماخوذ ګڼي ، چې دُنکاچې ته وائي. دَ فقيرانو نسبت دَ اهلِ صفه سره کېږي ، دَ صف نه صوفيه هم دَ قلبي پاکۍ په سبب دَ خپل رب په وړاندې په اول صف کښې اودرېږي."[1]

"دَ تصوف اصطلاحي معني ده ، تقوي ، تزکيه ، احسان ، سلوک، اخلاص او دا ټول دَ يو حقيقت مختلف تعبيرونه دي ، تصوف هغه علم دے چې دَ دې په وجه تزکيه نفسوس او تصفيه اخلاق او دَ ظاهر او باطن دَ جوړېدو احوال پېژندې شي ځکه چې سعادت ابدي ورته حاصل شي."[2]

شېخ عبدالقادر جېلاني ؒ وائي چې

"تصوف دَ الله تعالي سره دَ صدق عبديت او مخلوق سره دَ حسنِ اخلاق نوم دے (غنيته الطالبين باب التصوف والمتصوف) علامه ابن القيمؒ وائي : تصوف دَ سلوکِ حقيقي يوه حصه ده او دَ نفس تهذيب او دَ دې تزکيه ده ځکه چې دَ رفيق اعلي دَ صحبت دَ سېل لپاره تيار شي."3

دَ تصوف په حقله امام قېشريؒ وائي چې

"تصوف دَ صَف نه مشتق دے ، دَ دې معنا ده چې دَ تصوف خاوندان دَ الله جل جلاله په بارګاه کښې دَ حاضرۍ کولو په موجب او دَ خپلو زړونو په وجه صفِ اول کښې وي او دَ دوي باطن دَ دوي دَ ظاهر نه زيات پاک وي. دَ سيد عبدالقادر جېلانيؒ دَ قول په رڼا کښې تصوف دَ څلورو تورو په يوکېدو جوړ شوې دے لکه ت، ص، و او ف او دَ "ت" نه مراد توبه ، دَ ص نه مراد صفائي ، دَ و نه مراد ولايت او دَ ف نه مراد فنا في الله دے دَ دې څلورو صفاتو مجموعه تصوف دے او چا کښې چې دا څلور اوصاف وي هغۀ ته صوفي وائي."4

ابن خلدون وائي چې ،

"دَ تصوف معنا ده دَ عبادت پابندي کول، دَ الله جل جلاله طرف ته ټول په ټوله متوجې کېدل ، دَ دنيا دَ زېب او زينت نه مخ اړول. مال او جاه وجلال طرف ته عام خلق متوجې دي، دَ دې نه کناره کشي کول دا طريقه دَ صحابه کرامو او دَ سلفِ صالحينو کښې عام او مروج وه .هم دا تصوف دے."5

کۀ مونږ دَ دې بَرني ذکر شوي دَ پوهانو تعريفونو ته ځير شو او خپل چاپېرچل ته اوګورو نو مونږ ته به داسې ډلې هم ښکاره شي چې په دې دَ تصوف په تعريفونو پوره نۀ خېژي ، چې په کښې ډېر دَ پاڅلی نه خوېدلي ښکاري ، خو په دې عالمان ښې خبرې کولې شي . زما موضوع ده صوفيانه شاعري.کۀ مونږ خيال اوکړو نو دَ پښتو دَ کلاسک شاعرۍ نه راواخله تر دَ حمزه بابا پورې ډېره زياته شاعري دَ تصوف په غلاف کښې نغښتې ده ، په شرط دَ دې چې تصوف سره په ترس کښې مختلف تحريکونه راغلل دوام ئې اوموندو ، ښۀ ډېره شاعري په کښې اوشوه لکه رومانوي، ترقي پسند او دَ آزادۍ تحريکونو سر راوچت کړو. او اوس هم په دې تحريکونو کښې بعضې تحريکونه تاند دي چې لمن ئې دَ شاعرۍ نه تر د نثر پورې خوره ده.ولې بيا هم دَ تصوف نه په پښتو ادب کښې دَ روح ګردانۍ ادراک په نظر نۀ راځي ، او اوس هم په کښې ښۀ ډېره شاعري کېږي تر دې چې پښتو ادب او تصوف لازم او ملزوم ګڼلې شي دَ پښتو ادب لوستونکي او ليکونکي دومره په تصوف مئين دي چې کۀ څوک فلسفه يا اخلاقيات هم په شاعرۍ کښې اوچېړينو دوي ئې تصوف ته راکاږي ، لکه نن سبا چې په ډيوه ريډيو دَ تصوف په حقله کوم پروګرامونه نشر کولې شي په هغې کښې ئې غني خان هم تصوف طرفته راښکلے دے چې دا هغۀ سره سراسر ظلم او زياتې دے ، ځکه چې پښتو ادب له الله تعالي ايکي يو فلسفي شاعر ورکړے دے او هغه هم مونږ دَ تصوف طرفته راکاږو .

په کلاسک شاعرۍ کښې تصوف دَ پير روښان په وساطت سره رانغوتو ، او دَ هغۀ مکتب که يو خوا پښتو ادب له ډېر څۀ ورکړل نو هم دې مکتب هر خاص او عام د تصوف سره آشنا هم کړل .لکه چې ما

مخکښې څنګه اووئيل چې تصوف په پښتو ادب کښې تر ننه پورې راؤ چليدۀ او مونږ د حمزه بابا شاعري په ډاډه زړۀ په حواله کښې ورکولې شُو . دَ پښتو آدب دويم باباعبدالرحمن چې دَ خوشحال خټک دَ رومانيت بېرغ دَ ښۀ هسک کولو سره سره دومره شاعري دَ تصوف په موضوع وکړه چې هغه سکوټ دَ يو صوفي شاعر په نامه ياد کړې شۀ . تر دې چې هغۀ اصلاحي خيال سره سره اخلاقيات هم وړاندې کړې دے خو تصوف ئې ځانګړې خاصه ګرځيدلې ده . زۀ اوس دَ هغۀ يو دوه شعرونه دَ حوالې لپاره وړاندې کوم .

"تـــوان توفيـــق خـــو دَ فتنـــو راځخـــه نـــۀ وۀ
پـــه فتنـــو دَ تـــورو ســـترګو مفتـــون چـــا کـــړم"6

"مـــا دَ د هـــر غـــم وهلـــې دے پـــه لتـــه
دَ پيـــــالې دَ ســـــراحې لـــــه برکتـــــه"7

دَ پښتو ادب دريم بابا عبدالحميد هم دَ تصوف په مېدان کښې نيلے زغلولې دے .چې دَ نمونې لپاره دَ هغۀ يو دوه شعرونه وړاندې کول مناسب ګڼم دَ دې لپاره چې ما مخکښې ذکر وکړو چې پښتو ادب په تصوف ښۀ ماله مال دے او هم دَ دې باباګانو دَ توجو په برکت په پښتو کښې تصوف دوام موندلې دے . او تراوسه دا دَ يو تحريک په شکل ترمونږه رارسېدلې دے . او دې سره خوا په خوا تحريکونه ډېر روستو پاتې شول او يا بلکل دَ خلقو نه هېر شوي دي .

"دَ زړۀ زخـــم يـــم وژلـــې نهايـــت
کـــۀ مـــې نـــۀ وې ترخلـــې شـــوې ســـرايت
کـــۀ صـــدف غُنـــدې ســـينه ګنجينـــه غـــواړې

لــــه دریـــــا بـــــه کـــــړه پـــــه څـــــاڅکي کفایـــــت"8

په شلمه صدۍ عیسوۍ کښې ښاغلي حمزه خان شنواري کۀ یو خوا دَ غزل دَ بابا خطاب وګټهٔ ، نو بل خوا ئې تصوف دَ پښتو په جامه کښې او نغښتلو چې لکه څنګه ناوې په ځائسته جامو کښې سنګار شي، چې دَ دې نه پس تصوف هر چا ته پښتون اولیدے شۀ . او دومره ورسره پښتون فکر اشنا شۀ چې کۀ اوس شاعرۍ کښې څوک اصلاحي اسلامي یا تصوف رنګ راوړي نو دَ هر پښتون په ذهن کښې هم دا درې واړه توکي دَ تصوف ځریکه اووهي . هغه دې خان عبدالغني خان بابا ولې نۀ وي چې په فلسفه کښې ئې ځانګړې مقام حاصل کړے دے او اوس ترېنه دَ ډېر عقیدپه برکت مونږه ئې دغه مقام کښې وینو او تصوف ته ئې وردیکه کوو . ګو چې مونږ ته ښۀ پته هم ده چې هغه دَ تصوف د لارې سړے هرګز نۀ وۀ . دَ حمزه بابا دوه شعرونه دَ مثال په توګه وړاندې کوم .

"کـــۀ لـــه اُنســـه څـــۀ جـــوهر وۀ پـــه انســـان کښـــې
ائینـــې غونـــدې ســـاده شـــو پـــه نســـیان کښـــې
ســـتا دَ مـــخ ســـختي وه پټـــه پـــه ښـــکلا کښـــې
دَ ســـپوږمۍ نـــه ایـــلا ګټـــې را حاصـــل شـــوې"9

زۀ به اوس خپلې موضوع له راشم . زما موضوع ده دَ ابراهیم رومان شاعرۍ کښې دَ تصوف رنګدَ هغۀ کتاب تیت پرک چې په کال 2015ءکښې چاپ شوې دے او په دې کښې په مختلفو عنوانونو شاعري شوې ده لکه رومانیت ، جدت پسندي ، اخلاقیات ، قوم پرستي او دَ مینې محبت ، خو زۀ دَ هغۀ دَ شاعرۍ په یو اړخ خبرې کول غواړم ، او هغه اړخ دے دَ هغۀ شاعرۍ کښې تصوف .چونکې ماته دا معلومه ده چې رومان په باقاعده توګه دَ پیرسباق باباجي مرید دے نو په عملي

توګه تصوف سره تړلې شوے دے ، له دې کبله دَ هغهٔ په شاعرۍ کښې دا اړخ جوت دے .

دَ تصوف یوه اصطلاح "ابتلا" ده.دَ دې نه مراد دے چې مرشد په سالک باندې مختلف ازمېښتونه کوي ، او هم په دغه ازمېښتونو کښې دَ سالک روزنه او پرواز کېږي ، دغه اصطلاح په یو شعر کښې ابراهیم رومان څهٔ په دې ډول رانغښتې ده چې هغه شعر څهٔ داسې دے .

دَ ابـــــتلا پــــــه جنـــــــون څـــــــهٔ وي اطــــــلاق
غوا ړمــــــــه برخـــــــه لـــــــــه ازل مسلســـــــــل

ابراهیم رومان تصوف یو ترتیب ګڼي او تصوف دے هم ترتیب، ځکه چې دا ترتیب دَ یوې قاعدې وي، او کله چې دغه ترتیب په یو انسان کښې راشي نو بیا هغهٔ ته دَ صوفي نسبت کولې شي . هم په دې بنیاد هغهٔ دَ ترتیب اهمیت په یو شعر کښې څهٔ په دې ډول بیان کړې دے

ځـــــان چـــې خــــاؤرې دَ ترتیـــــب پـــــه وســــیله کـــړي
هغــــــه څــــــوک خاونــــــد دَ برخــــــې دَ وقــــــار شــــــي

هم په دې غزل کښې دَ تصوف درجې څهٔ په دې ډول بیانوي :

چــــــې دَ وجــــد لــــــه مقامـــــــه کلــــــه تېــــــر شــــــي
بیــــا دَ قـــــال، سُــــکر او حــــال غیــــږ کښـــې قــــلار شـــي

په تصوف کښې دَ اصلي صوفي دا منشا وي چې خپله رضا خاؤرې کړي . او دغه ښودنه دَ ابراهیم رومان دَ یو غزل په مطلع کښې څهٔ په دې ډول بیان شوې ده

چـــــــې پـــــــه ســـــــتن دَ کېفیــــــاتو وګنــــــډل شــــــي
ادراک اومـــــــــومي چـــــــې خپلــــــه رضــــــادل شــــــي

ابراهيم رومان په تصوف کښې دَ طمعې نه وېزاره ځکه دے چې دَ نبي کريم صلي الله عليه وسلم دَ احاديث مفهوم دے چې " طمع مرض دے " هسې خو طمع په دې بنياد دَ قبولو نه اوتې ده، خو چې کله طمع په تصوف کښې راګډه شي بيا خو ترې نۀ فساد جوړ شي لکه چې وائي :

زۀ پـــه زهـــد کښـــې دَ طمعـــې نـــه وېـــزار يـــم
خـــــو قائيــــــل دَ تقــــدس دَ اوليــــــاء يــــم

يا دا شعر چې دَ تصوف په نوم فتنه خوروي .

چـــې ســـالک ډک دَ ګمـــان او لـــه فتنـــې وي
دَ دۀ ناســـته کـــه خلـــوت وي کـــۀ کورســـوزم

دَ تصوف اولنې درس مينه ده، او هم دا دَ بقا ذريعه ده . دې کېفيت ته ابراهيم رومان څۀ په دې ډول کتنه کړې ده، او مونږ ته ئې دا حالت په ډاګه کړې دے، لکه چې وائي :

کۀ نقطه لـه مينځـه ووځي نـو مـدار، پرکـار بېکـار شي
بقـا اومـومي رومانـه! چـې څـوک مينـه کښـې فناشـي

کله چې ابراهيم رومان جلال کښې راغلې دے نو دَ راز نه ئې پرده نيمکحو کړې ده لکه چې وائي:

شـومه سـتا حسـن کښـې سرشـار معيـار تـه اورسـېدم
چـــې لېـــونے شـــوم دَ صـــحرا حصـــار تـــه اورســـېدم
شـــه راخـــوره پـــړدې او تتـــې خـــو جلـــوې کـــړه لـــږې
زۀ دَ اوقـــات نـــه بـــالاتر افکـــار تـــه اورســـېدم
چـې پښـو تـه ښـکته شـوم او خـاؤرو سـره خـاؤرې شـومه
هغـــه دم زۀ دَ عـافيـــت مقـــدار تـــه اورســـېدم

دَ یو بل غزل دوه شعرونه ئې تاسو سره شریکول غواړم، چې په دې کښې ئې دَ حقیقترموز بیان کړي دي :

ازادي کښې پابندي ده، له هستي ،مستي نه پاکه
بندګي کښې دغه رازدے ، اطمینان کښې چې ضمیر دے
چې دَ دید په قدر پوې شي، دَ حجاب وجود بې کارشي
پېرزوګانې شي بېدارې، دَ عشق څۀ ښکلے تعبیر دے

ابراهیم رومان دَ راز او نیاز دَ خبرو په وخت خپل کېفیات څۀ په دې ډول څرګنده وي

دَ راز او نیاز خبرې شي رومانه ګورے هله
تاکید چې په ترتیب شي مرتب منشا پېداشي

هرکله چې ابراهیم رومان صوفي له دَ فقیرنوم ورکړے دے نو دَ دغې فقیرۍ دَ حاصل لپاره ئې دَ شواخون ښودنه په دې ډول کړې ده :

نینې دَ اوسپنې چیچل فقیري
دغه عیان واخلم پنهان واخلم

دَ قلندر مقام چې کله ښائي نو څۀ دا رنګ ګویان شي

رومانه نفس کۀ زیر کول غواړي څوک
دغه هنر خو قلندر سره وي

او کله چې دَ عشق واړه صفات چې په یوه نکته راغونډه اولیدۀ شي نو بیا په عاشق او معشوق کښې تمیز ګران شي او دا دَ حقیقت خاصه ده لکه چې وائي :

دَ عشق واړه صفات چې په یوه نکته راغونډ شي
عاشق او معشوق یوشي او تمیز ځان کښې حېران شي

یو حدیث کښې ارشاد دے چې :(خیرالناس من ینفع الناس )
ترجمه: بهتر تاسو کښې هغه کس دے کوم چې دَ بل دَ پاره مفید وي .خو دغه خیال ابراهیم رومان څۀ په دې ډول په شعر کښې بیان کړے دے چې یو طر ف ته ئې دغه مقصد هو بهو راوړے دے او بل طرف ته ئې په کښې دَ وحدت الوجود ځائے کړے دے.

دَ ځـان غـم بـه چارپایـه سـره وي چـې څـو ژونـدے وي
کثـرت کښـې چـې وحـدت لټـوي هغـه څـوک انسـان شـي

کله چې مجاز حقیقت ته ورجختېږي دغه کېفیت داسې په ګوته کوي او څۀ په ښۀ انداز دغه ادراک مونږ ته راښائي :

وتلـــې ترینـــه لار دَ حقیقـــت پـــه لـــور نـــزدې ده
رهبـــره! زمـــا عشـــقه ســـتامجاز څـــۀ عجیبـــه دے

یا دا شعر چې دَ عشق په لار کمال ته ځان رسول غواړي :

خـالص شـي پـاتې کـۀ اور څـومره هـم سـرۀ زر سـوزوي
ځـــان ځکـــه زۀ دَ عشـــق پـــه اور ســـېزم کمـــال لټـــوم

تزکیه او احسان دَ تصوف داسې توکي دي چې صوفیان په تصوف کښې دې له ډېر زور ورکوي او په دې موضوع ډېر کتابونه هم لیکلے شوي دي دَ احسان باره کښې ابراهیم رومان څۀ په دې ډول دَ شعر په ژبه ګویان دے:

احســـــان رومانـــــه ! دَ ســـــلوک ســـــودا ده
دا خـــــو دَ عشـــــق پـــــه در نـــــذر شـــــیندمه

دَ جلال او دَ جمال امېزش سره دَ کمال رغ والې او دَ حیا موجب جوړېدل او بیا دا ښودنه دَ ابراهیم رومان په دې شعر کښې اوګورئ :

جلال چې دَ جمال په رنګ کښې رنګ شي کمال رغ شي
ترتیب چې مزین شي هغه وخت حیا پیدا شي

دَ ابراهیم رومان هغه شاعري چې په تیت پرک کتاب کښې ځاې شوې ده چې دَ تصوف په اړه ده، دَ هغې نه څۀ اشعار چې ستاسو دَ وړاندې کېښودل، او دَ خپل کم علم په رڼا کښې مې په دې دَ خپل خیال څرګندونه وکړه .کۀ دې کښې څۀ خطائي لمانه شوې وي دَ هغې معذرت کوم ، نور تاسو په خپله دَ تیت پرک شاعري په تفصیل سره لوستے شئ .

په دې کښې دَ تصوف نه علاوه لکه چې ما مخکښې ذکر وکړو نور هم ډېر څۀ شته ماخو تش دَ هغۀ په هغه شاعرۍ اکتفا وکړه په کومه کښې چې ماته تصوف برېښېدۀ . اوڅۀ ناڅۀ اشعار مې ترېنه راټول کړل .

زۀ دا خپل لیک دَ ابراهیم رومان په دې قطع باندې ختمول غواړم :

دَ اوسپنې نینې چیچل اسان شي په ترتیب کښې
اثر سره انداز چې پېوسته شي اطمینان شي
یوزۀ دے چې رازونه هغه دم کښې تس ونس کړي
کثرت چې په وحدت کښې ځلنده شي نو جانان شي

# حوالې


1. مرغزار باباجي ،ازپیر طریقت رهبرشریعت حضرت مولانا الحاج محمد شیرین المعروف ،رساله سلوک کامل ، تصحیح وترتیب حضرت مولانا شکیل احمد القادري دارالعلوم محمودیه تقویه الایمان حسېن آباد مردان صفحه :۸.۷)
2. کاندهلوي،افادات حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا ،(دلائل سلوک صفحه :۱۴ او اکابر کا سلوک واحسان ،اشاعت اداره اسلامیات، بک سېلرز لاهور صفحه:۴۱).
3. ( مدارج السالکین صفحه:۱۷۷ ).
4. عیسي ، حضرت مولانا اخوندزاده محمد ،( تصوف وبیعت کي ضرورت رساله انوارات پیر سباقیه حضرت مولانا قاري بشیراحمد مدني ،دارالعلوم فېض القرآن بلوچستان ناصر آباد روډ لوره لائي صفحه :۵.۴).
5. خلدون،(تاریخ ابن جلد اول باب تصوف )
6. قېس ،مرتبین پروفېسر محمد الله خلیل ، نمروز،دَ عبدالرحمان بابا دیوان۲۰۱۷، پښتو اکېډمي کوئټه مخ(۲۳۸)
7. کامل، مرتبین قلندر مومند او دوست محمد ،دَ رحمان بابا کلیات ، ، افغان پرنټرز کابل مخ (۱۷۸)
8. جېلاني ، مرتبه انوارالحق.درمرجان دیوان عبدالحمید مومند بابا ، یونیورسټي بک ایجنسي مخونه (۱۶ ، ۱۷)
9. شنواري، دَ حمزه ،کلیات(څلورم جلد)۱۹۹۷ پښتو اکېډمي پېښور مخونه (۲۸۵ ، ۲۹۵)

# پښتو ناول کښې د اپوریا تجزیه

# An Analysis Of Aporia In Pashto Novel

Muhammad Anwar Khan* Faisal Rehman**

**Abstract:**

Novel stands for peculiar depiction of social affairs. Pashto novel writers strive to portray the life like images in Pashto novels. In dynamic shift of life the paradigms of novel need to fit in that framework for precisely execution.

Pashto novel is in evolutionary practice. There are found immense flaws in plot, theme, tale and characters in accurate portray of Pashto society. The world literature has produced standardized novels in all respect comparative to Pashto novel. These shortcomings need to be analyzed critically for valued novels production.

Aporia is a postmodern terminology in fiction and Pashto novel writers have unconsciously elaborated the conditions in their texts. Pashto novel writers are foundwith active zeal to surmount these imperfections. In this

* PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar

** PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar

research article a critical analysis of aporia in Pashto novel is conversed fictionally for textual preciseness.

فیکشـن کښـې د مـتن پـه حوالـه ایپوریـا یوحالـت دے. لیکـوال د حالت نشاندهي کوي خو تفصیل نه ځان ژغوري.د تفصیل نه ځان ژغورل د لیکوال د علمي سطحې غمازي کېږي. پـه ځېنـي حـالاتو کښـې لیکـوال جواب په حال پرېږي او ځېني حـالتو کښـې برجسـته جـواب هـم وائـي. پـه ځینو حالاتو کښې فیصله کول مشکل شي.پښـتو فیکشـن کښـې ایپوریـا معنې ته نژدې لفظ "تذبذب" کېدے شي چې تذبذب په خپلـه هـم د پښـتو لفـظ نـه دے.ایپوریـا تـه مـونږ ابهـام (Ambiguity) او تشـکیک (Suspicto) نه شو وئیلے. ابهام او تشکیک بیـل بیـل اصطلاحات دي او خپلې معنې لري.

The word “aporia” originally came from Greek which, in philosophy, meant a philosophical puzzle or state of being in puzzle, and a rhetorically useful expression of doubt. In contemporary theoretical parlance, the term has more been associated with deconstructive criticism, especially with Derridean theory of difference, as a reaction to structuralist interpretations of texts, denoting “a point of undecidability, which locates the site at which the text most obviously undermines its own

rhetorical structure, dismantles, or deconstructs itself" (Derrida).[1]

ترجمه:لفظ "ایپوریا" په اصل کښې د یونان نه راغلے دے چې په فلسفه کښې ورته فلسفیانه رکاوټ یا د رکاوټ حالت وئیلے شي او په بدیعي حقله د شک یو مفید اظهار دے. په معاصر تهیوري مباحث کښې د دې اصطلاح زیات تعلق د رد تشکیل تنقید ، په خاص طور د دریدا تهیوري اف ډفرنس سره دے کوم چې د متون ساختیاتي تشریح ردعمل دے. لفظ ایپوریا "غیر فیصله کن نقطه" واضحه کوي. دا نقطه د متن په هغه ځاے کښې وي کوم ځاے چې متن خپل بدیعي ساخت ښائي. دغه نقطه د متن ساخت بربنډ کوي یا متن په خپله د خپل ځان ردتشکیل کوي".

ویبسټر ډکشنري د دې لفظ تشریح داسې کوي.

"An expression of real or pretended doubt or uncertainty especially for rhetorical effect[2]"

ترجمه: د حقیقت یا شک یا غیر حقیقت داسې اظهار کول چې په خصوصي توګه د بدیع اثر وګرځي.

"In literature, aporia (pronounced a-PORE-ree-uh) is an expression of insincere doubt. It's when the writer or speaker pretends, briefly, not to know a key piece of information or not to understand a key connection. After raising this doubt, the author will either respond to the doubt, or

---

[1]https://literariness.org/2016/03/22/aporia/accessed on 05, 2018.

[2]https://www.merriam-webster.com/dictionary/aporia accessed on, May06, 2018

leave it open in a suggestive or "hinting" manner."[3]

ترجمه:په ادب کښې اپيوريا د غير خالص شک اظهار دے. دا هغه حالت دے کله چې يو ليکوال يا مقرر مختصراً څه خبره اوچته کړي خو د هغې خبرې سره متعلقه ورسره څه خاص معلومات نه وي.د دې مشکول اظهار به ليکوال مقرر يا د دې جواب وائي او يا به ئې تجويزونو دپاره هم په دې ازاد حالت کښې پرېږدي.

پښتو ادب کښې د اپيوريا دپاره بل لفظ راوړل د اپيوريا لفظ اصل معني او تشريح و توضيح غير موثر کېږي.د دې دپاره دا دليل په ځاے دے چې کوم اصطلاحات په کومه ژبه کښې تخليق شي هغه دې هم د هغې ژبې په تناظر کښې هم هغه شان د نړۍ په نورو ادبياتو کښې پکار راوستے شي. دې سره د اصطلاح خپل معنويت په ځاے پاتے شي. د الفاظو معنوي ترجمه د الفاظو اصل روح ته نقصان رسوي. د معنوي تراجم اطلاقي جهات د زمان ومکان د قيد نه ازاد نه شي کېدے. د پښتو لفظ "خيځل" دپاره په اکثرو لهجو کښې متبادل لفظ نه شته. د دې لفظ دپاره په انګريزۍ ژبه کښې هم لفظ نه شته.

اپيوريا د مابعد جديديت اصطلاح ده . په پښتو ناول کښې د اپيوريا حالت په لاشعوري توګه بيان شوے دے. د پرويز شيخ ناول اخري ملاقات کښې د دې حالت د يوې مقالمې په شکل کښې بيان شوے دے. اګرچې دا مکالمه د کرداونو په شکل کښې ده مګر په دې کښې د ليکوال علمي سطحې او د حالت سره سوال او جواب تشکيک، شکوک،

[3]https://literaryterms.net/aporia/accessed on May 05, 2018.

شبهات، رکاوټ، لاینحل مسئلې هم بیان شوي دي. له دې لاندې سوال کښې چې کوم حالت مخې ته راځي!

"د تقریر نه پس چې کله د سوالونو وقفه شروع شوه نو یو هلک پاسېدو او تپوس ئې اورکړو ، سر! د الهامي ژبې حقیقت څۀ دے؟

ارمان: الهامي ژبه، ژبه نه ده بلکې د علم او رابطې یوه ذریعه ده، یا شته او نه ئې نوعیَت شته، او که بالفرض وي خو عام انسان ته د دې ادراک نۀ کېږي، بالکل داسې لکه د بجلۍ کرنټ چې ښکاره وجود نۀ لري بلکې د ټسټر یا د ګوتو اوړو سره د دې احساس کېږي."[4]

د ایپوریا حالت د لیکوال د سوال او جواب سره وضاحت باندې اډانه لري. ځیني داسې حالتونه هم وي چې لیکوال سره د سوال جواب نه وي. که کوم جواب اووائي هم نو د ردتشکیل په زمره کښې راځي. یو مثال ئې لاندې ورکولے شي.

دویم تپوس: دا روحاني رابطه د چا په مابین کېږي؟

ارمان: د خالق او مخلوق ترمینځه.

د خالق او مخلوق مینې سوال راپورته کول د ایپوریا مثال دے. د خالق مینه او مخلوق تر مینځه مینه د یو طرف نه راڼه ده. دا د احساتو او جذباتو نه پرته د د وجداني کیفیت نتیجه ده. وجداني باطني حس دے چې الهیاتي کیفیتونو سره تعلق

---

[4] شیخ، پرویز، اخري ملاقات، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، جنوري ۲۰۱۸، مخ ۱۳۱

لري. د دې مينې فيصله د فيکشن ليکوال په قوت اراده کېږي نه راځي.

"When an aporia is phrased in the form of a question, it's called a rhetorical question, i.e. one that the speaker doesn't literally want answered. A rhetorical question, like any aporia, will either be swiftly answered by the speaker, or it will be left open in a manner that suggests its own answer (or suggests that the question is unanswerable)."[5]

ترجمه: کله چې اپوريا د سوال په حالت کښې راشي دې ته ريټورک سوال(بديعي سوال) وائي چې ويونکے په ادبي حواله نه غواړي چې د دې جواب اووائي. ريټورک سوال د هر اپوريا په شان د دې جواب په تندۍ سره جواب ورکوي او يا به ئې په مجوزه طور داسې حالت کښې چې د دې خپل جواب راشي (يا به داسې تجويز وړاندې کوي چې د دې سوال جواب نه شته.)

"Aporia suggests "an impasse", a knot or an inherent contradiction found in any text, an insuperable deadlock, or "double bind" of incompatible or contradictory meanings which are "undecidable""[6]

ترجمه: "اپوريا په متن کښې د "يومشکل" يوه غوټه يا ذاتي تضاد، ناقابل عبورکاوټ، "د شک بندش" مخالف يا متضاد معني تجويز کوي کومې چې ناقابل فيصله وي".

---

[5]https://literaryterms.net/aporia/accessed on May 05, 2018.

[6]https://literariness.org/2016/03/22/aporia/accessed on May 5, 2018

"Aporia is a logical paradox in which the speaker sows seeds of doubt on a subject. This rhetorical strategy can make the audience feel sympathetic toward the speaker regarding the dilemma he is in."[7]

ترجمه:"ايپوريا يو منطقي تضاد دے چې ويونکے مضمون کښې د شک تخمونه کري.دې بديعي حکمت علمۍ کښې لوستونکے د ويونکے سره همدردي محسوسوي په کومه معمه کښې چې هغه نخښتے وي."

ايپوريا د ابهام (Ambiguity) نه مختلفه اصطلاح ده. ايپوريا يو حالت يا کيفيت دے. ابهام د تصنيف په حقله د نتيجې په شکل کښې په ګوته کېږي. د ابهام متعلق پروفيسر انورجمال ليکي!

"کسی فن پارے میں فنکار اور سامع کے درمیان تفہیمی و ذہنی تفاوت سے ابہام پیدا ہوتا ہے. اس کی دو تآلی صورتیں ہیں اول یہ کہ جب کسی فن پارے کی تخلیق و ترسیل میں عدم مساوات پیدا ہوگی تو کئی نتائج معانی پیدا ہوں گے جس سے فن پارہ (Multi-Dimensional) یعنی (کثیر الابعاد) ہوجائے گا جس سے فہم کی ایک نئی اور نسبتاً خوبصورت شکل سامنے انے کا امکان ہے. دوم یہ کہ متعدد بار "ابہام" حسن کی یکتائی پیدا کردیتا ہے. صنعت ابہام کے بغیر کوئی بھی تخلیقی زبان اپنی شناخت کو برقرار نہیں رکھ سکتی اس لئے کہ ایک درشت اور واضح بیان علمی صداقت (Scientific Reality) کو تو بیان کرے گا لیکن شعری اور تخیلی اسلوب سے بے بہرہ ہوگا. ہر مکالمے کے لیے ایک متوازن سطح شعور کی ضرورت ہوتی ہے. اس سطح کے بغیر کوئی کلام بلیغ نہیں ہوسکتا. ترسیل معانی کے لئے یہ ایک ناگزی شرط ہے."[8]

---

[7] https://literarydevices.net/aporia/ accessedon May 5, 2018

[8] انور جمال۔ پروفیس، ادبی اصطلاحات (ترامیم و اضافہ جات کے ساتھ)، نیشنل بک فاؤنڈیشن اسلام اباد، جنوری 2016، ص 31

ترجمه:په یوې فن پارې کښې فنکار او اوریدونکي تر مینځ د فهم په بنیاد توپیر نه ابهام پیدا کېږي. د دې دوه صورتونه دي اول دا چې کله په یوې فن پارې په تخلیق او ترسیل کښې عدم مساوات پیدا کېږي نو ډېرې نتیجې به معاني لري چې د دې په سبب به فن پاره کثیر الابعاد کېږي. د دې نه به د فهم یو نوې او نسبتاً بنائسته شکل مخې ته راتلو امکان دے. دویم دا چې ډېر ځلې ابهام د حسن یووالے پیدا کوي. صنعت ابهام نه بغیر یو تخلیقي زبان هم خپل شناخت برقرار نه شي ساتلے. داځکه چې یو درشت او واضح بیان خو به علمي صداقت بیان کړي لیکن شعري او تخیلي اسلوب نه په کښې نه وي. هر مکالمے دپاره د یو متوازن شطح شعور ضرورت وي. د دې سطح نه علاوه هیڅ یو کلام بلیغ نه شې کېدے. د معاني د ترسیل دپاره دا یو ضروري شرط دے.

پښتو ناول کښې د ایپوریا یو بل مثال داسې دے.

"دریم تپوس: دغه رابطه د انسان او خالق تر مینځه کېدے شي؟

ارمان: دغه رابطه عموماً هغه مخلوق سره کېږي چې نه ورسره علم او پوهه وي او نه د خپل مافي الضمیر ادا کولے شي، د انسان او خالق تر مینځ دغه رابطه کېدے شي بلکې کېږي خو دې روحاني رابطې دپاره د انتهائي قرب الهي ضرورت وي، د دنیا لوے لوے روحاني پیشواء، اولیاءالله او صوفي شعرا په (Spiritual Connectivity) او قبلي مراقبه دغه مقام ته رسېدلے دي

خو د هغوئي دغه روحاني روابط (Mysterious) يعني مخفي، پوشيده او محبوب وي."[9]

د جرمن ادب د نطشے ليک مثال نه د اېپوريا وضاحت داسې کېږي.

"What is happiness? The feeling that power is growing and that resistance is overcome. (Friedrich Nietzsche)
Nietzsche poses the question of what happiness means and then immediately answers it in a confident manner. In addition to the aporia, which sets up the question so that Nietzsche can answer it, there is also a juxtaposition here – between the uncertainty of the first sentence and the extremely certain second sentence[10]"

ترجمه:"خوشحالي څه ته وائي؟ هغه احساس چې طاقت زياتېږي او مزاحمت قابو راوړي."(فرېډريک نطشے)

نطشے سوال پورته کوي چې د خوشحالۍ معني څه ده او بيا عجلت کښې په اعتماد سره د دې جواب وائي.د اېپوريا سره سره چې کوم سوال پورته کېږي نطشے د دې ورکولے شي..دلته د اولنۍ جملې د غيروضاحتي سوال او دويمې جملې برجسته جواب کښې د لفظونو ربط نزدے دے.

پروفيسر راز محمد راز په ناول کښې د اېپوريا يو حالت داسې راغلے دے.

---

[9]شيخ، پرويز، اخري ملاقات، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، جنوري ۲۰۱۸، مخ ۱۳۱، ۱۳۲

[10]https://literaryterms.net/aporia/accessed on May 05, 2018.

"دا پر دې ډېره حیرانه راغله چې ژوند د مینې د څو لفظونو په برکت د دې په خپل وجود او په خارج کښې څومره وسعت او نوښت پیدا کړے او مفهوم ئې څومره څو اړخیزه تشریحات رابرسیره کړه."[11]

د ایپوریا په حقله ډاکټر اقبال آفاقي په خپل کتاب "مابعدجدیدیت" (اصطلاحات اور معاني وتعبیرات وتشریحات) کښې داسې لیکي!

"یہ یونانی زبان کا لفظ ہے جس کا مطلب ہے کہ اقتباس کا کوئی حصہ موجود نہیں جس کی غیر موجودگی پریشان کن بن جاتی ہے. یہ ایسی صورت حال جس میں انسان متحیر ہو کر رہ جاتا ہے مثلاً جب کوئی خطیب دوران خطاب یا مصنف دوران تحریر تشکیک کا شکار ہوجائے کہ وہ اپنے تفکری مخاطبے (Discourse) کو کہاں سے آغاز کرے یا اسے معلوم نہ ہو کہ اس کے پیش نظر مسئلے یار کاوٹوں کا حل کیا ہے تو یہ صورت حال جنم لیتی ہے رد تشکیل پر مبنی تنقید نے کچھ ایسے لمحات اتے ہیں جب ادمی لاینحل صورت حال کے نتیجے میں تذبذب کا شکار ہوتا ہے. اس صورت حال میں جراءت راستہ نکالتی ہے. ژاک دریدا کے یہاں یہ صورتحال اس وقت پیدا ہوئی جب وہ پال ڈی مان کے متون کی ردَ تشکیل کر رہا تھا. اس نے دیکھا کہ متن کے اندر موجود وقفے (Gaps) تفہیم کی راہ میں رکاوٹ بن رہے ہیں. متن میں، موجود ان وقفوں کی طرف توجہ دینا ضروری ہوتا ہے."[12]

---

[11] راز، رازمحمد، پروفیسر، عاشولمر او باران اوري، دانش کتابتون پېښور، ۲۰۰۸، مخ ۵۳،۵۴

[12] آفاقی، اقبال، ڈاکٹر، مابعد جدیدیت (اصطلاحات اور معانی و تعبیرات و تشریحات)، نشنل بک فاؤنڈیشن اسلام اباد، جولائی 2016، صفحہ 23

ترجمه: "دا د يونانۍ ژبې توري دي چې د دې معنې ده چې د اقتباس څه حصه موجوده نه ده چې د هغې د غير موجودګۍ د پريشان کن جوړېږي. په داسې صورتحال کښې انسان حيران شي. مثلاً کهله چې يو خطيب د خطاب دوران کښې يا يو ليکوال د ليک په دوران کښې د تشکيک ښکار شي چې د خپل فکري خطاب شروع د کوم ځاے نه اوکړي يا هغه ته دا معلومات نه وي چې هغه پيښ شوو مسئلو يا رکاوټونو حل څه دے. په دې وخت کښې دا صورتحال جوړيږي. د رد تشکيل تنقيد په حقله ځيني داسې لمحات راځي چې ليکوال د نه حل کيدونکے مسئلې په حقله د تذبذب ښکار شي. په داسې صورتحال کښې جراءت لاړ اوباسي. د ژاک دريدا په حقله داسې صورتحال هغه وخت پيدا شو کله چې هغه د پال ډې مان د متون رد تشکيل کولو. هغه اوليدو چې متن کښې دننه موجود وقفو په تفهيم کښې رکاوټ جوړېږي. متن کښې موجود وقفو طرف ته توجه کول ضروري وي.

د ايپوريا يو بل مثال د راز محمد راز ناول عاشولمر او باران اوري نه رانقل کوو.

> "عاشو ګرانې! د کايناتي باشندګۍ لوړ عزت او آزادي دې مبارک شه" خو هغه په دې نه پوهېدله چې دا اواز د هغې د خپل وجود، د نيمي سړي ږغ او که خدائي لحن دے خو يوه خبره يقيني وه چې د مينې په اوسني ښائسته تناظر کښې د هغې د شعور د سطحې په شا خفته پراته

انساني ټولنيز نفسياتو هم ځان ورباندې منکشف کړے وۀ.[13]

د ايپوريا اصطلاحي تشريح په حقله ډاکټر اقبال آفاقي داسې ليکي!

"اس اصطلا کا ایک مطلب کسی فیصلے کا ناممکن ہونا بھی ہے. یعنی ہم کوئی حکم صادر نہیں کرسکتے. لیوتارڈ کے مطابق اس کی شناخت ترفع (Sublime) کی جمالیات اور اوانت گاردے کے حوالے سے کی جاسکتی ہے جسے وہ مابعد جدیدیت کے عین سمجھتا ہے. لیوتارڈ کا خیال ہے کہ جب کوئی سیاسی فیصلہ کیا جاتا ہے تو وہ متذبذت صورت حال کا ائینہ دار ہوتا ہے. اسے تعقل او مخیلہ کے ترفع کے درمیان انفصال کے مترادف قرار دیا جاسکتا ہے."[14]

ترجمه: د دې اصطلاح مطلب د يوې فيصلې ناممکن کېدل هم دي. يعني مونږ د يوې مسئلې په حقله څه حکم هم نه شو کولے. د ليوتارډ متعلق د دې پېژندګلو د ترفع جماليات او اوانت ګارے په حواله کېدے شي چې هغه ورته د مابعد جديديت عين مطابق شماري. د ليوتارډ دا خيال دے چې کله يوه سياسي فيصله کېږي نو هغه د متذبذب صورت حال سره مخ وي. دا د تعقل او مخيله په مينځ کښې د انفصال مترادف وي.

څلورم تپوس: آيا دغه علم يا رابطې ته Tele pathy (ټيلي پېهتي) ويلے شي؟

ارمان: نه، بالکل نه ټيلي پېهتي تعلق د دوو انسانانو د زړونو تر مينځه وي او روحاني روابط د خالق او مخلوق تر مينځه وي.

---

[13] راز، رازمحمد ، پروفيسر، عاشولمر او باران اوري، دانش کتابتون پېښور، ۲۰۰۸، مخ ، ۵۴

[14] آفاقی، اقبال، ڈاکٹر، مابعد جدیدیت (اصطلاحات اور معانی و تعبیرات و تشریحات)، نشنل بُک فاؤنڈیشن اسلام اباد، جولائی 2016، صفحہ 23

ایپوریا د تشکک یا تشکیک (Skepticism/Suspicion) نه هم جدا معني لري. دتشکیک متعلق پروفیسر انورجمال لیکي!

"یہ فلسفے کا ایک "مکتب فکر" ہے۔ تشکیکی اصطلاح تیقن کے متضاد استعمال ہوتے ہے۔ اس مکتبہ فکر کے ماننے والوں کا خیال ہے کہ ہم کسی مسئلے پر کوئی ختمی اور قطعی رائے نہیں دے سکتے کیونکہ ایک امر دوسرے کے نفیکر دیتا ہے اور خود دلائل ایک دوسرے کے ضد ہوتے ہیں۔ "[15]

ترجمه: "دا فلسفي یو (مکتب فکر) دے. د تشکک اصلاح د تیقّن په ضد استعمالیږي. د دې مکتب فکر منونکو دا خیال دے چې کله مونږ د یوې مسئلې په حقله څه ختمي او قطعي رائے نه شو ورکولے ولې چې یو امر د بل نفي کوي او دلیلونه هم د یو بل په ضد کښې وي."

د فاروق سرور ناول "سګوان" د علامت نګارۍ یو شاه کار دے. په دې ناول کښې د ایپوریا یو مثال راوړو.

"اوس ترور په خندا سوه. کېدے سي زما جانه چې سپي دربانډې پوه وي چې ته د دوئ په ژبه پوهېږې او دوئ نه غواړي چې ته ئې شیطانت و نورو ته ور وښائې ، ځکه دې نو دوئ د سر دښمنان دي. تل دربانډې غاپې او ته له خپلې سادګئ نه وربانډې پهیږې."[16]

"قانون او مینه اګرچې دوه مختلف او متضاد څېزونه دي خو د اختلاف او تضاد باوجود ځیني اقدار په کښې قدرې مشترک دي. قانون دانان وائي چې قانون ړوند وي. د

[15] انور جمال۔ پروفیسر، ادبی اصطلاحات (ترامیم واضافہ جات کے ساتھ)، نیشنل بک فاؤنڈیشن اسلام اباد، جنوری 2016، ص 73

[16] سرور، فاروق ، سګوان، سکام آدبي اکېډمي کوټه، اپریل ۲۰۰۸، صفحه ۳۱

ثبوت او دليل د عېنکو نه بغير ورته هيڅ نه ښکاري. دويمه دا چې قانون کوڼ وي. د ثبوت او دليل نه بغير هيڅ خبره نه اوري. دريمه دا چې قانون بې مخه او بې مروته وي، د ثبوت او دليل نه بغير د هيچا خبره نه مني. دغه شان د جمالياتو دانشواران وائي چې مينه ړنده وي، د مينې نه بغير ورته هيڅ نه ښکاري. دويمه دا چې مينه کاڼۀ وي. د خپلې مينې نه بغير د هيچا خبره نه اوري. دريمه دا چې مينه بې مخه او بې مروته وي، د خپلې مينې نه بغير د هيچا خبره نه مني. د قانون اثاثه ائين او قانوني دستاويزان وي، د مينې سرمايه حسن و جمال او د مينې کائنات وي. د قانون سزا قيد او سزا ے موت وي، د مينې سزا عمري اذيت، ذلت، شرمندګی او خودکشي وي. د قانون مجرم يا مجرمه خپل ضمير ته ملامته وي، د مينې مجرم يا مجرمه خپل ضمير ته سر خرو او باعزته وي."[17]

دا ايپوريا حالت ، کيفيت د رکاوټ يا غير فيصله کن وي.د دې اظهارپه ليک کښې ښائست پيدا کوي. دا حالت په ځيني وخت لاينحل هم شي. ايپوريا داسې حالت پيدا کوي چې رد تشکيل ته ضرورت لري.

[17] شيخ، پرويز، د سبا سترګه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،فروري ۲۰۱۷،مخ، ۱۹۱

# کتابیات


1. آفاقی، اقبال، ڈاکٹر، مابعد جدیدیت (اصطلاحات اور معانی و تعبیرات و تشریحات)، نشنل نک فاؤنڈیشن اسلام اباد، جولائی 2016
2. انور جمال. پروفیس، ادبی اصطلاحات (ترامیم و اضافہ جات کے ساتھ)، نیشنل نک فاؤنڈیشن اسلام اباد، جنوری 2016
3. راز، رازمحمد ، پروفیسر ، عاشولمر او باران اوري، دانش کتابتون پېښور،۲۰۰۸
4. سرور، فاروق ، سګوان، سکام آدبي اکېډمي کوټه، اپریل ۲۰۰۸
5. شیخ، پرویز ، اخري ملاقات، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، جنوري ۲۰۱۸ ،
6. شیخ، پرویز ، د سبا سترګه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،فروري ۲۰۱۷
7. نیر، ناصر عباس، ڈاکٹر، مابعد جدیدیت اطلاقی جہات، بیکن بکس غزنی سٹریٹ، اردو بازار، لاہور، 2015
8. نارنگ، گوپی چند، ساختیات، پس ساختیات و مشرقی شعریات، سنگ میل پبلی کیشنز، لاہور، 2010
9. کمال، محمد اشرف، ڈاکٹر، اصطلاحات (ادبی، تنقیدی، تحقیق، لسانی)، بک ٹائم اردو بازار کراچی، 2017
10. https://literariness.org/2016/03/22/aporia
11. https://literaryterms.net/aporia
12. https://www.merriam-webster.com/dictionary/aporia
13. https://literarydevices.net/aporia/accessed

# د پښتو ژبې لرغوني رېښې

اثر جان*

ABSTRACT:

This paper is about the genesis of the Pashtu language. Researchers round the globe have a deep look into the genealogical background of the Pashtu language. The researchers, upon the genesis of the Pashtu language, are divided into four or five schools of thought. The present discussion is an analysis of all these theories.

پښتو ژبه دَ نړۍ په ژبو کښې یوه ځانګړې ژبه بللے شي. دَ تېرو وختونو راسې دا ژبه دَ ژبپوهانو دَ څېړنو موخه راروانه ده. دَ مروجه تحقیق نه وړاندې دَ دې ژبې په بابله به رنګا رنګ روایات دَ عوامو نه تر خواصو پورې په شفاهي توګه نقل کېدل .لکه دا دَ دیوانو ژبه وه چې دَ سلېمان علېه سلام په زمانه کښې به دَ پښتنو مورث افغانه دَ دیوانو سره وئیله.

یا دا یوه اسرائیلي ژبه ده

"چې افغانانو به دَ سلېمان علېه سلام په زمانه کښې دَ هغوي سره دَ راز اؤ پردې خبرې په دې ژبه کولے."[1]

چونکې دَ یوې نظرئې مطابق پښتانه اسرائیلیان ګڼلے کېږي هم په دې وجه دا ژبه یوه اسرائېلي ژبه ګڼلے شوه. دَ دې ژبې په بابله یؤ بل بې سنده عوامي روایت به دا هم بیانېدلو چې دا دَ دوزخ ژبه ده.

---

* ایم فل سکالر علامه اقبال اوپن یونیورسٹی اسلام آباد

دَ پښتو ژبې پهٔ بابله کهٔ مونږ پهٔ دېباندينو رواياتو غور وکړو نو باوجود دَ کم علمي ارزښته ،دا درېواړه روايات دَ دېژبې پهٔ لرغونتيا دلالت کوي. هم دا وجه ده چې دَ نوموړي مستشرق ډاکټر ټرومپ پهٔ خيال

"دا دَ تېرو وختونو راسې يوه مستقله اؤ زړه ژبه ده اؤ دَ خپلې ابتدا نه دَ هندي اريائي ژبو نه جلا راروانه ده. مګر خصوصيات ئې دَ دواړو سره مشترک دي اؤ يوه مقتدره ژبه بللے شي."[2]

دَ نوموړي فرانسوي مستشرق ډاکټر هنري په خيال

"پښتو يوه مستقله ژبه ده اؤ تر ډېره وخته دَ ژند اؤ سنسکرت سره دَ دې اړېکې پاتې شوي دي . دَ دې قياس تائيد پهٔ دې خبره سره هم کېږي چېدَ دې درې واړو ژبو دَ ټکو ، قواعدو، اصولو اؤ شمېرې ساخت اؤ وېنا ترډېره حده يؤ بل ته ورته ده. پهٔ دې دليل مونږ وئيلے شو چې پښتو دَ سنسکرت اؤ ژند پهٔ شان يوه زړه اؤ مستقله ژبه ده."[3]

دَ پښتو ادبياتو عالم ډاکټر خيال بخاري مطابق

"دا ژبه دَ تورو پهٔ لحاظ سره اريائي ژبو ته ورته ده خو دَ قواعدو پهٔ لحاظ سره سامي ژبو سره تړون لري."[4]

دا هاغه دلائل دي چې مونږ ته دَ خپلې مورنۍ ژبې پهٔ بابله داسې حقائق پهٔ ګوته کوي چې تر اوسه دَ ډېرو ژبپوهانو دَ نظره پټ پاتې شوې دي. زمونږ په رائېپکاردا وه چې پښتو دَ انډو يورپي ټبر پهٔ مرکزي کور کښې دَ انډو ايراني اؤ انډو آرين سره مرکزي ټبر څانګه ګڼلے شوي وه.خو دَ دې پهٔ ځائے دادَ انډو ايراني ذېلي ټبر پهٔ شرقي څانګه کښې دَ سويلي شرقي دوه ذېلي برخو نه دوېمه حسا ب شوې ده چې وړومبۍ برخه ئې پامېري نومېږي. دَ پامېرۍ ژبو ذېلي څانګې يزغلامي ، منجي

، سنګلېڅي اؤ اشکمشي بيانېږي.اګرچې پۀ دې سويلي شرقي څانګه کښې هم پښتو څانګړې ده چې دَ دې ذېلي ښاخونه مرکزي، شمالي، جنوبي اؤ وانېڅي ذکر شوي دي. خو بهتره به دا وه چې دې له خپل مقام پۀ لاندني ډول ورکړے شوے وے.




دلته مونږ دَ خپل باندني دريځ پۀ لړ کښې يؤ څو دلائل وړاندې کوو.

1. پښتو کښې " في " پۀ " پې " بدلېږي . لکه ګلاب نه ګلاپ ، کباب نه کباپ
2. پښتو کښې دَ ايراني ټبر خالص ټکي لکه " ق ، ف ، ع اؤ ص " نشته.
3. دَ پښتو ټکي " ډ ، ټ ، ړ اؤ ڼ" پۀ ايرانۍ ژبو کښې نشته.
4. پښتو کښې لرغونے هند اريائي " واؤ" پۀ خپل حال دے لکه بس نه وس اؤ بالۍ نه والۍ
5. دَ پښتو معکوس اوازونه لکه " ټ ، ډ " پۀ نوې فارسۍ کښې نشته.
6. دَ هندۍ ژبې پۀ حروف تهجي کښې دَ " غ " اواز نشته اؤ اهل ايران دَ " ډ " اؤ "ړ" سره بلد نۀ دي خو پۀ پښتو کښې

داسې ډېر ټکي شته چې دَ " غ " سره " ټ " یا " ړ " یؤ ځائې راځي لکه " غټ " یا "غړپ"

7. دَ ټکو دَ مخارجو پۀ لحاظ سره هند یورپي سرچینه پۀ دوه ؤ برخو کښې وېشلې شي چې سنتم اؤ سیتم بللے شي. دلته پښتو دَ انډو ایراني ولقې نه اوځي اؤ پۀ انډو آریائي ولقه کښې ورګډه شي.
8. پښتو کښې تنفسي اوازونه نشته لکه " دهوکا " نه " دوکه "
9. پښتو کښې دَ نورو ژبو مقابل دَ " ن " اؤ " ړ " ټکي دَ کلمو پۀ سر، مېنځ اؤ آخر درې واړو ځایونو کښې راځي لکه ړوند ، ړنګ وغېره."5

دَ نومیالي ژبپوهان میکس مولر پۀ خیال

"له سنسکرت څخه هم دَ مخې یوه زړه ژبه موجوده وه چې ادې ته به پکښې موير وئيلې کېدۀ . دا ژبه دَ ټولو اریائي ژبو مور وه."6

دَ اوېستا اؤ سنسکرت سره متقابل دَ پښتو ځانګړې تګ لاره

| پښتو | اوېستا | سنسکرت |
|---|---|---|
| لېور | اېور | دېور |
| سخر | هوسر ، خسر | سوسر |
| زوم | زرماتر | جاماتر |
| مخ | رخ | مکهړا |
| غوږ | ګوش | کرنه |
| اور | آتش، آتئر | اګني ، آګ |

| | | |
|---|---|---|
| څانګه | شاکها | شاخ |
| خر | خر | کځر |
| زنګون | زانو | جانو |
| ورځ | روز | روج |
| میاشت | ماه | ماس |
| څرمن | چرم | چرم |
| سپین | سپتا | سپیتا |
| غر | ګیري | ګیري |
| څنګل | بازو | باهو |
| ماښام | شام | شام |
| غنم | ګندم | ګودهوم |
| ښهٔ | خوب | شبه |
| کر | کشت | کرشتي |
| سل | صد | شو ، سو |
| غریوے | ګریو | ګریوا |
| خواښې | خوش دامن | ساس |
| لوشل | دوشیدن | دوهنا |
| ګړېدل | غریدن | ګرجنا |
| پنځه | پنج | پنکه |
| لسم | دهم | دیشم |
| پلیت | پلید | ملیچ |
| مچ | مګس | مکهي |

| | | |
|---|---|---|
| تنده | تشنګي | ترشتا |

د پښتو دَ يورپي ژبو سره ارتباطي جدول

| پښتو | جرمېنک | لاطيني |
|---|---|---|
| پنډ | Fund | --- |
| مېچن | Machine | --- |
| دېوال | Wall | --- |
| وادۀ | Wedd | --- |
| لار | Law | --- |
| تندر | Thunder | --- |
| لکه | Like | --- |
| اګۍ | Egg | --- |
| لېوۀ | Leo | --- |
| ستوري | --- | Asteri |
| پرون | --- | Paron( موجوده ) |

مونږ ګورو چې پښتو لکه دَ نړۍ دَ نورو ژوندۍ ژبو پۀ شان ځانګړې تګ لاره ساتلې ده. که يؤ طرف ته دا دَ ايراني ژبو " دال " پۀ " لام " اړوي نو بل طرف ته دَ هندي اريائي ژبو برعکس دَ " بې " پر ځائے دَ " واؤ" حالت برقرار ساتي . کۀ دَ " خې " پر ځائے دَ "ک" راوړلو نه ډډه کوي نو پۀ خپلو حروف تهجي کښېپۀ فراخدلۍ سره " غ " توري له هم ځائې ورکوي.

# حوالې

1. رامپوري، نجم الغني، اخبار الصناديد، جلد اول ، ملک بک ډپو، پنځم چاپ، نومبر 1998
2. خټک ، پرېشان ، پښتون کون (مرتب) ، پښتو اکېډمي ،پشاور يونيورسټي، پشاور ، دوېم چاپ ، 2005 ، ص 71
3. ايضا ، ص 72
4. ايضا ، ص 93
5. اثر جان ، دَ پښتنو نسلي څېړنه ، پېښور ، جدون پرېس ، مئي 2012 ، ص 71 تا 73
6. ايضا ، ص 101

# دَ رحمان بابا اؤ میر تقي میر دَ عشق تصور

Dr. Nasrullah Khan*

**ABSTRACT**

This paper explains the ideology of fervor, love and affection both, by Rehman Baba and Mir Taqi Mir. Both of the two legendary poets of Pashtu and Urde repectively have thematic ideas about love. To both, love is amour and passion which is stimulated by beauty and egalitarianism in look. Rehman Baba and Mir Taqi Mir, both have intrinsic choice to express upon love and beauty. Both have crossed limits of love to achieve their perpetuity, the love of Almighty.

## دَ عشق تصور

مخکښې دَ دې نه چې دَ رحمان بابا اؤ میرتقي میر دَ عشق دَ تصور پۀ حقله څۀ ووئیلے شي یا دَ هغه تجزیه وکړے شي، مناسب به دا وي چې دَ عشق تعریف اؤ مفهوم واضحه شي- هسې خو عشق دَ ښکلا سره کېږي یا عشق دَ حسن لۀ برکته پېدا کېږي خو پۀ دې حقله دَ پوهانو رایې

* ډاکټر نصرالله خان اسسټنټ پروفېسر پښتو څانګه عبدالولي خان پوهنتنو مردان

ګورو، چې هغوي دَ عشق تعریف څنګه کوي- حضرت سلطان باهو دَ عشق په حقله وائي چې

"محبت کا انتہائی مرتبہ عشق ہے۔"1

مولانا جلال الدین رومي دَ عشق په حقله وائي چې:

"اگر اپ نے عشق نہیں کیا ہے تو اپنے آپ کو زندہ مت سمجھئے. اور روز آخرت اس زندگی کو شمار نہیں کیا جائے گا۔"2

پروفېسر برټنډ رسل وائي چې

"عشق یوه ډېره پاکیزه اؤ مقدسه جذبه ده- دَ انسانیت فلاح دَ محبت په عمومیت کښې پرته ده۔"3

ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي لیکي چې:

"عشق دَ محب اؤ محبوب ترمئینځه یؤ نسبت دے، چې پېدا شي نو دَ معرفت سبب شي۔"4

امیر حمزه خان شنواري لیکي چې:

"دَ عشق په سلسله کښې به دومره کافي وي چې اَلْعِشْقُ نارُ یَحْرِقُ ماَ سِوىَ الْمَحْبُوبُ (عشق یؤ اور دے چې دَ خپل محبوب نه سېوا هرڅۀ سیزي)۔" 5

ولې دَ عربي ژبې علماء دَ عشق په حقله لیکي چې:

"عشق ، عشقه یؤ بوټے دے، چې په زمکه کښې جرړې مضبوطې کړي، ښاخونه وکړي په ونه خورشي ټوله ونه

ګېره کړي، وې نيسي، نۀ ترې راکاږي تردې چې ونه
وچه شي۔"6

دَ عشق رنګ رنګ تعريفونه شوي دي. خو لنډه دا چې عشق هغه نعمت دے، چې محب خپل محبوب ته رسوي- دَ دغه ليکوالو نه علاوه شاعرانو هم دَ عشق پۀ حقله ډېر شعرونه وئيلي دي لکه چې دَ اردو ژبې نامتو شاعر مرزا غالب وائي:

عشق نے غالب نکما کر دیا
ورنہ ہم بھی آدمی تھے کام کے

اؤ دَ پښتو ژبې عظيم شاعر اؤ لوئے ليکوال خوشحال خان خټک دَ عشق

پۀ حقله وائي چې:

زۀ لـۀ عشـقه خبـر نـۀ يـم چـې عشـق څـۀ دے
هـــو مره اورم چـــې لــۀ حســـنه ئــې اثـــر دے

اؤ رحمان بابا وائي:

عشـــق دے لـــۀ حســـن اؤ حســـن دے لـــۀ عشـــق
تـــــۀ نګـــــار زمـــــايې زۀ نګـــــار ســـــتا
دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۱۲۰

اؤ ميرتقي مير هم عشق دَ حسن نه پېدا ګڼي لکه چې وائي:

جوں حسن ہے اک فتنہ گر توں عشق بھی ہے پردہ در
وہ شہرہ عالم ہوا، میں خلق میں رسوا ہوا
کلیات میرجلد دوم مخ ۴۹

غرض دا چې عشق دَ حسن نه پېدا کېږي اؤ حسن دَ قدرت دَ ټولو نه لوئې شاهکار اؤ يؤ داسې عظيم، ښکلې اؤ سپېڅلې اثر دے، چې پۀ ټول کائنات کښې ئې غزونې کړي دي۔ دَ حسن دَ ټولو نه لوئې اؤ لومړے عاشق انسان دے۔ انسان هغه واحده هستي ده چې دَ عقل، شعور، وجدان، جذبې اؤ روحانيت پېرزوئينه پرې شوې ده، پۀ دې وجه دَ عشق جذبه دَ ټولو نه زياته پۀ انسان کښې وي- دَ عشق تعلق دَ انسان دَ روح سره دے- عشق دَ حسن طلبګار اؤ پرستار دے، حسن شمع ده اؤ عشق پتنګ دے- پۀ ګل اؤ بلبل کښې هم دَ عشق اؤ حسن رشته ده- پۀ کلاسيکي شاعرانو کښې خصوصاً اؤ پۀ عامه توګه عموماً دَ رحمان بابا اؤ مير کمال دا دے، چې هغوي پۀ ساده ژبه کښې دَ اولس خبرې پۀ عشقيه رنګ کښې کړي دي، ځکه ئې اولس دَ خپل زړۀ اؤ ضمير اواز ګڼي- دَ رحمان بابا اؤ مير دَ عشق پۀ حقله هم دا وېناده چې عشق دَ حسن سره کېږي- دَ دواړو دَ شاعرۍ موضوع پۀ عشق مبني ده اؤ دا مني چې عشق دَ ټول جهان بادشاه دے اؤ دا عظيمه کارخانه پۀ عشق آباده ده- لکه چې رحمان بابا وائي-

دا جهان دے خدائے لۀ عشقه پېدا کړے
دَ جملهٔ مخلوقاتو پلار دے دا
دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۱۵

بل طرفته دَ میرتربیت دَ صوفیانو پۀ غېږه کښې شوے ؤ اؤ دَ پلار دا نصیحت ئې پۀ غوږونو کښې پروت ؤ چې:

"بیٹا عشق کرو۔ عشق ہی اس کارخانے میں متصرف ہے. اگر عشق نہ ہوتا تو نظم کل قایم نہیں رہ سکتا تھا۔ بے عشق زندگی وبال ہے. عشق میں جی کی بازی لگادینا کمال ہے. عشق بناتا ہے. عشق ہی کندن کر دیتا ہے۔ دنیا میں جو کچھ ۔ ہے عشق کا ظہور ہے."[7]

میر دَ شعر پۀ ژبه هم دغه دَ پلار نصیحت بیانوي اؤ وائي چې:

کیا حقیقت کہو کہ کیا ہے عشق
حق شناسو کاہاں خدا ہے عشق
اور تدبیر کو نہیں کچھ دخل
عشق کی درد کی دوا ہے عشق
عشق سے جا کوئی نہیں خالی
دل سے لے عرش تک بھرا ہے عشق

کلیات میرجلدسوم مخ ۱۱۱

اؤ پۀ مثنوی "دریائے عشق کښې وائي چې:

محبت نے ظلمت سے گاڑھا ہے نور
نہ ہوتی محبت نہ ہوتا ظہور
محبت ہی اس کارخانے میں ہے
محبت سے سب کچھ زمانے میں ہے

کلیات میرجلدششم مخ ۱

الله تعالٰی انسان ته پهٔ نورو مخلوقاتو باندې دَ نطق برتري ورکړې ده ـ انسان له ئې عقل و شعور ورکړے دے ـ ځکه پهٔ انسان کښې دَ عشق جذبه زیاته ده- دَ کائنات پهٔ ټول نظام کښې ښائسته والے اؤ هنګامې دَ عشق له وجې دي- عشق دَ انسان پهٔ خټه کښې دَ ازل نه راوړے شوے دے-دَ رحمان بابا اؤ میر دَ عشق تصور ډېر زیات جوت دے ـ دَ دواړو دَ کلام غوره موضوع هم دَ عشق ده-دواړو دَ عشق پهٔ مېدان کښې ښهٔ پهٔ نره زغل کړے دے اؤ دَ عشق دَ ازغنې لارې نه پهٔ ښهٔ توګه خبر شوي دي- خو چې څومره عاشق دَ مینې پهٔ اورکښې سوزي نو مینه اؤ محبت ئې نورهم زیاتېږي اؤ څومره چې مینه اؤ محبت زیاتېږي نو عاشق دَ مینې اؤ محبت انتها ته رسي، څهٔ ته چې عشق وئیلے کېږي- دواړه شاعران دَ عشق دَ زور، لمبو اؤ غمونو ذکر کوي لکه چې رحمان بابا وائي:

ملائک دَ عشق له غمه څهٔ خبر دي
خو هم ماله دا سخت سفرپېدا شهٔ

بیا به روغ دَ عاشقۍ لهٔ رنځه نهٔ شي
پهٔ هرتن کښې چې دَ غم اثرپېدا شهٔ
دَ عبدالرحمان دیوان مخ ۵۲

میروائي:

جیتا ہے تو بے طاقتی و بے خودی ہے میر
مردہ ہے غرض عشق کا بیمار ہمیشہ
کلیات میر جلد اول مخ ۳۹۸

اؤ بل ځائې وائي:

*عشق ومحبت کیاجانوں میں لیکن اتناجانوں ہوں*
*اندر ہی اندر سینے میں میرے دل کو کوئی کھاتا ہے*

کلیات میرجلدچهارم مخ ۱۴۸

خو چې کله رحمان بابا اؤ میر دَ عشق لمبو سوزولي دي اؤ رنګ ئې ورله زېړ کړے دے، دَ سترګو تورئې ورله سپین کړي دي، نو په ډېر عجیبه انداز کښې وائي- دَ رحمان بابا شعر دے چې:

درد و غـــــم دَ عاشـــــقیه ډېـــــر مشـــــکل دے
هــيڅ ســړے دې پــهٔ دا رنـځ ګرفتــار نــهٔ شــي
د عبدالرحمان دیوان مخ ۹۷

اؤ میرتقي میر وائي چې:

*یا رب کوئی ہو، عشق کا بیمار نہ ہووے*
*مرجائے، ولے اس کو یہ آزار نہ ہووے*
*زندان میں پھنسے، طوق پڑے ،قید میں مرجائے*
*پردام محبت میں گرفتار نہ ہووے*

کلیات میرجلداول مخ ۴۷۱

ولې بیا هم دواړه عاشقان دَ عشق دَ حقیقت نه خبرشوي دي، ځکه چې دواړو لـه دا عـزت اؤ دا شـهرت عشق ورکـړے دے ـ کـهٔ چرې دواړه عاشقان نهٔ وے، نو بیا بـه هڅو چا نهٔ پېژندلے- دواړه دَ عشق احسان مند دي لکه چې رحمان بابا وائي-

چا پېژندم زۀ چې عاشق نۀ ووم پۀ جهان کښې
وس مې ستا له رويه نوم رسوا پۀ درست جهان دے
دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۲۳۹

اؤ ميروائي:

کوئی نہ ہم کو جانے تھا، ہم ایسے تھے گم نام آگے
یمن عشق سے رسوا ہوکر شہروں میں مشہور ہوے
کليات ميرجلدسوم مخ ۳۷۹

دَ رحمان بابا اؤ مير عشق لکه دَ مطلبي عاشقانو عشق نۀ دے، چې نن وي صبا نۀ وي، نن يو خوښوي اؤ صبا بل خوښوي، بلکې دواړه دَ خپل محبوب پۀ مينه مست دي ـ دَ محبوب دَ وصال دَ پاره سر ورکولو ته تيار دي- دَ رقيبانو ناروا سلوک زغمي ولې چې عشق قرباني غواړي لکه چې رحمان بابا وائي:

چې دا ستا دَ عاشقۍ پۀ تېغ شهيد شي
دَ رحمان غاړه به هله شي ادا
دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۱۲

اؤ ميرتقي ميروائي:

سر دے کے میر ہم نے فراغت کی عشق میں
ذمے ہمارے بوجھ تھا بارے ادا ہوئے
کلیات میر جلد اول مخ ۴۶۶

دَ رحمان بابا دَ عشق تصور دَ هغه پۀ کلام کښې خور وور پروت دے، چې دَ هغه پۀ حقله دَ عشق نظریه ترې جوتېږي اؤ میر دَ عشق تصور یا تعریف اکثر پۀ خپلو مثنویانو کښې بیان کړے دے- دواړو دَ عشق صفات اؤ پۀ ژوند اؤ کائنات کښې دَ عشق اهمیت واضحه کړے دے- پۀ عشق کښې بادشاهان ګدایان کېږي اؤ ګدایان دَ بادشاهانو پۀ تخت کښېني- لکه چې رحمان بابا وائي-

پۀ هجران کښې ئې ګدائے ؤم کند پۀ غاړه
پۀ وصال کښې ئې بیاخان اؤ امرا شوم
دَ عبدالرحمان دیوان مخ ۷۷

میر وائي چې:

درویش جب ہوئے ہم تب ہے ہمیں برابر
کشکول بازگوں ہے یا افسر شہی ہے
کلیات میر جلد سوم مخ ۲۱۶

ولې بل طر فته عشق یؤ داسې دریاب دے، چې څوک پۀ دغه دریاب کښې یؤځل ورګډ شي، نو بیا ترې بچ کېدل ګران کار دے لکه چې رحمان بابا وائي-

عاشــقي اســانه مــۀ ګڼــه خبر شــه
ســربازي ده دَ هــر نفس پــۀ دا میــدان کښــې

دَ عبدالرحمان ديوان مخ۱۶۴

ميرتقي مير وائي:

عشق کی ہے راہ کیا مشکل گزر
سر کا جانا جس میں ہراک گام ہے
کليات ميرجلدسوم مخ ۲۲۵

پۀ عشق کښې دَ عاشق پۀ زړۀ قسما قسم غمونه تيرېږي،دغه حال ته دواړه شاعران داسې اشاره کوي- رحمان بابا وائي:

عاشـــقۍ دومـــره داغونـــه دې پـــرې ايښـــي
چـــې تمـــام ئـــې لالا زار کـــړ زمـــا دل
دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۱۷۸

ميروائي:

دل جلا، انکھیں جلیں، جی جل گیا
عشق نے یہ کیا کیا ہمیں دکھلائے داغ
کليات مير جلد سوم مخ۱۰۹

خو دَ دغه داغونو باوجود دواړه عاشقان خپل سرورکوي، ولې دَ محبوب دَ مينې نه نۀ اوړي- رحمان بابا وائي-

زۀ تېرشـــــــوے يـــــــم ترســـــــر
پـــــۀ طلـــــب دخپـــــل دلبـــــر
دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۱۴۳

زۀ رحمـــــــــان ترهرڅـــــــــۀ تېـــــــــريم
تېـــــــــر بــــــــه نـــــــۀ شـــــم تردلبـــــــــر
دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۱۴۴

ميروائي:

*گذر جان سے اور ڈر کچھ نہیں*
*رہ عشق میں پھر خطر کچھ نہیں*
کليات ميرجلداول مخ ۳۶۰

بل شعر دے:

*ہم تو سوسو بار مر رہتے ہیں اک آن میں*
*عشق میں اس کے گزرنا جان سے مشکل ہے کیا*
*کلیات میر جلد سوم مخ ۳۲*

څنګه چې ليکوالو دَ عشق دَ تعريف پۀ حقله ليکلي دي، چې عشق دَ "عشقه" بوټي پۀ شان دَ بنده دَ وجود نه وينې څښي اؤ رنګ ورلـه زيړ کوي، ولې رحمان بابا اؤ مير دغه زيړ رنګ دَ عاشقۍ يؤ علامت ګڼي- لکه چې رحمان بابا وائي:

ســـپينې اوښـــې زيـــړ رخســـار دَ مينـــې لـــۀ دولتـــه
اے رحمانــــــــه دا دَ عاشــــــــقانو ســـــيم و زر دي
دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۲۲۳

ميروائي:

چاه کا دعوی سب کرتے ہیں، مانیے کیونکر بے آثار
اشک کی سرخی، زردی منہ کی، عشق کی کچھ علامت ہو
کلیات میر جلد اول مخ ۳۸۲

خوبیا هم دواړه عاشقان دَ محبوب پهٔ صفتونو نهٔ مړېږي اؤ دغه هرڅهٔ ئې قبول کړي دي، لکه چې رحمان بابا خپل محبوب ته وائي:

هســـې يـــاد ئـــې همېشـــه مـــدام زمـــا
چـــې اوراد ئـــې پـــهٔ هرصـــبح و شـــام زمـــا
دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۱۱۲

مير وائي:

اس رخ وزلف کی تسبیح ہے یاں اکثر میر
ورد اپنا یہی اب شام وسحر ہم نے کیا
کلیات میر جلد دوم مخ ۳۱

اؤ دواړه پهٔ خپل معشوق دومره مئين دي چې رحمان بابا ورته وائي:

غم به هيڅ يوه هوښيار خوښ کړے نهٔ وي
ماخوښ کړے دے ستاغم پهٔ هوښيارۍ کښې
دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۱۲۳

مير وائي:

ہمیں ہی عشق میں جینے کا کچھ خیال نہیں
وگرنہ سب کے تئیں جان اپنی پیاری ہے

کلیات میر جلد سوم مخ ۳۷۴

خو چې کله دواړه عاشقان دَ مجازي عشق پهٔ حقیقت پوهه شوي دي، نو دَ حقیقت لار ئې اختیارکړې ده اؤ دا قسمه وېناګانې ئې دَ خولې نه راوتلې دي، رحمان بابا وائي:

دَ مجـــاز پـــهٔ معشـــوقو کښـــې وفـــا نشـــته
مـــا هـــزار ځلـــه وکښـــلے دے دا فـــال

دَ عبدالرحمان دیوان مخ ۷۳

میرتقي میروائي:

کب تلک ان بتوں سے چشم رہے
ہو رہے گا بس اب خدا سے نفع

کلیات میر جلد دوم مخ ۱۲۰

دواړه عاشقان پهٔ هاغه عشق کښې ډوب شوي دي، کوم ته چې حقیقي عشق وائي- رحمان بابا یؤ باعمله صوفي ؤ اؤ دَ میر تربیت صوفیانو کړے ؤ چې دغه تربیت دَ هغهٔ پهٔ شاعرۍ کښې صفا ځلېږي- رحمان بابا وائي:

خـــدائے لـــره بـــه ورشـــم پـــهٔ ســـودا دَ یـــار لـــهٔ مخـــه
بـــل مقصـــد مـــې نشـــته پـــهٔ کعبـــه پـــهٔ بتخانـــه

دَ عبدالرحمان دیوان مخ ۲۰۴

میروائي:

کسی کو کہتے ہیں نہیں میں جانتا اسلام وکفر
دیر ہو یا کعبہ، مطلب مجھ کو تیرے در سے ہے
کلیات میر جلد دوم مخ ۳۷۸

دواړه نوموړي عاشقان چې کله دَ حقيقي محبوب پۀ عشق کښې فناشوي دي اؤ ښۀ مست شوي دي، نو دا حقيقت ئې پۀ ډاګه کړے دے- رحمان باباوائي:

زۀ يؤ نۀ يم درست جهان پۀ تاميئن دے
کۀ بادشاه دے کۀ وزير دے کۀ ګدا
دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۱۵

ميروائي:

کیا کہوں سارا زمانہ کشتہ و مردہ ہے میر
اس کی اک انداز کا، اک ناز کا، اک آن کا
کليات ميرجلدچهارم مخ ۸

چې دَ الله تعالی سره مينه لري، نو هغه به اړومرو دَ حضرت محمد ﷺ سره مينه لري ځکه چې دا کائنات دَ هغۀ پۀ نور روښانه دے دواړه شاعران دغه حقيقت داسې ستائي- رحمان بابا وائي:

کــــئ رښـــا ده پـــــس روي دَ محمــــــد ﷺ ده
ګڼــــه نشــــته پـــئ جهـــــان بلــــه رښـــا
دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۳

ميروائي:

سب اس صفحے میں ہیں ظہور خدا
پراس سے عبارت ہے نور خدا
کلیات میر جلد ششم مخ ۹۲

دَ رحمان بابا شعردے چې
خــــدائې مــــئ ګڼـــه بــــې شــــکه چـــې بنــــده دے
نـــــورئې کـــــل واړه صــــفات دي پــــئ رښـــــتيا
دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۳

ميروائي:

یہ صورت اگر عبد مشہود ہے
حقیقت کو پہنچو تو معبود ہے
کليات ميرجلد ششم مخ ۹۳

هم دغـه شـان دواړه دَ تصـوف پـئ مېـدان کښـې داخـل شـوي دي اؤ دَ تصوف پئ دغه سخته اؤ مشکله لارئې سفرشروع کړے دے-

دواړه په دې حقيقت پوهه شوي دي چې دا ټول کائنات دَ الله په حکم چلېږي او دا هاغه ذات دے چې هر چرته دے، په هرڅهٔ کښې دے لکه چې خوشحال خان بابا وائي:

پــهٔ هرڅــهٔ کښـــې ننـــداره دَ هغـــه مـــخ کـــړم
چـــې لــــه دېـــرې پېـــدائيې ناپديـــد شـــهٔ

رحمان باباوائي:

معرفـــت دَ خـــدائے ځرګنـــد دے پـــهٔ هرڅـــهٔ کښـــې
ســـترګې وخـــوره چـــې ځـــوک هـــومره نظيـــر نـــهٔ کـــه
دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۱۲۷

ميرتقي ميروائي:

*تھا مستعار حسن سے اس کے جو نور تھا*
*خورشید میں بھی اس ہی کا ذرہ ظہور تھا*
کليات ميرجلداول مخ ۹۷

او يا دا شعر چې:

*نظر کر کے ٹک دیکھ ہر جا ہے وہ*
*نہان وعیاں سب میں پیدا ہے وہ*
کليات ميرجلدششم مخ ۹۱

غرض دا چې دَ رحمان بابا او ميرتقي مير دَ عشق په حقله تصور لکه دَ نوروصوفيانو دَ مجاز نه دَ حقيقت په لوري پوخ شوے دے- دَ حقيقي

عشق دَ پاره ئې دَ مجاز، علامتونو، تشبیهاتو اؤ استعارو نه کار اخستے دے اؤ خپل لوړمقصد ئې دَ شعر پۀ خوږه پسته اؤ دَ اولس پۀ ژبه اولس ته وړاندې کړے دے- دَ عشق دَ خواږو اؤ تراخو بیان ئې دَ شعر پۀ ژبه کړے دے-دَ رحمان بابا اؤ میر دَ عشق پۀ حقله تصور یؤ شان والے لري۔دواړه دَ حسن سرچینه دَ اللّٰہ تعالیٰ ذات ګڼي اؤ دَ عشق منبع دَ انسان زړۀ ګڼي- عشق ځان پۀ حسن کښې جذب کول غواړي، دَ جذب اؤ انجذاب دغه عمل ته عشق، مینه اؤ محبت وئیلے شي- دَ دواړو عشق دې حد ته رسېدلے دے لکه چې رحمان بابا وائي:

چې دا ستا دَ عاشقۍ پۀ تېغ شهید شي
دَ رحمان غاړه بـه هله شـي ادا

دَ عبدالرحمان دیوان مخ ۱۲

میروائي:

سرد ے کہ میرہم نے فراغت کی عشق میں
ذمے ہمارے بوجھ تھا بارے ادا ہوئے

کلیات میرجلد اول مخ ۴۲۶

# حوالې

1. سیداحمد سعید همداني ، پروفېسر، حضرت سلطان باهو، حیات وتعلیمات، حضرت سلطان باهواکېډمي، لاهور، درېم چاپ، فروري **۲۰۰۵**ء، مخ **۱۲۵**
2. مولانا رومي کانظریه عشق، مترجم موسیٰ خان جلال زئ، اشفاق انور، علم وعرفان، پبلېشرز، لاهور، **۱۹۹۹**ء، مخ **۱۵**
3. فهم دل راهي ، عارف رحمان ،رحمان ادبي جرګه پېښور، **۱۹۸۲**، مخ **۵۲**
4. جاوېد خلیل (مدون) قدردان دَ شاعرانو رحمان بابا ، ملت پرنټرز، لاهور، **۱۹۹۸**، مخ **۲۱۰**
5. فهم دل راهي ، عارف رحمان ، مخ **۹۴**
6. رحمان پوهنه، رحمان ادبي جرګه پېښور، **۱۹۹۳** ء مخ **۲۱**
7. ډاکټر نثار احمد فاروقي ، ، ذکرمیر، میرکی آپ بیتي(اردوترجمه) مجلس ترقي ادب لاهورجون **۱۹۹۴**ء مخ، **۱۷۷**

# کتابيات


1. رسا رسول سيد ،دَ عبدالرحمان باباديوان، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي،خېبربازار ،س ن
2. کليات مير،کلب علي خان فائق(مرتبه)ديوان دوم جلددوم،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ دوم،جنوري ۱۹۹۱ء
3. کليات مير،کلب علي خان فائق(مرتبه) جلدسوم،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ دوم،جون ۱۹۹۲ء
4. کليات مير،کلب علي خان فائق(مرتبه)ديوان پنجم و ششم جلدچهارم،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ دوم،جون ۲۰۰۶ ء
5. کليات مير،کلب علي خان فائق(مرتبه) جلدپنجم ،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ دوم،ستمبر۲۰۰۷ ء
6. *میر کی آپ بیتی* (ترجمه) ذکر مير،ډاکټر نثار احمد فروقي،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ اول،جون ۱۹۹۶ء
7. همداني، سيداحمد سعيد، پروفېسر، حضرت سلطان باهو، حيات وتعليمات، حضرت سلطان باهواکېډمي، لاهور، درېم چاپ، فروري ۲۰۰۵ء
8. مولانا رومي کانظريه عشق، مترجم موسیٰ خان جلال زئ، اشفاق انور، علم وعرفان، پبلېشرز، لاهور، ۱۹۹۹ء
9. راهی فهم دل ، عارف رحمان ،رحمان ادبي جرګه پېښور، ۱۹۸۶، مخ ۵۲
10. خليل جاوېد (مدون) قدردان دَ شاعرانو رحمان بابا، ملت پرنټرز، لاهور، ۱۹۹۸ء
11. رحمان پوهنه، رحمان ادبي جرګه پېښور، ۱۹۹۳ ء

# د زیتون بانو جنسي افسانې یوه موضوع - درې افسانې

Zar Muhammad Sangar[*] Noor ul Amin Yousafzai[**]

**Abstract:**

Zaitoon bano is a popular Pashto fictionist of the contemporary era. She has expressed all the emotions about gender and sexualism in her own unique style in Pashto fiction. This paper is an attempt to draw out that fact in her fictions. Especially in her three selected fictions. Da shawey Panra, Kakhay and Chilamchi.

هسې خو بانو بي بي د انساني ژوند سره تړلې په هره موضوع باندې قلم اوچت کړے دے. او ډېر خوارۀ وارۀ موضوعات ئې د خپل تېرۀ او تېز قلم په ځوکه بیان کړي دي. ځکه چې د بانو بي بي قلم د کراماً کاتبین نه هم تېز دے.

د بانو بي بي "ژوندي غمونه" چې په اول ځل په ۱۹۷۹ء کښې چاپ شوے دے. په دې کتاب کښې ټولې ټالې یو درځن افسانې دي. خو د دې مجموعې وروستۍ درې افسانې "د شوي پاڼه، کښے او چیلمچي" د یوې

---

[*] Lecturer Department of Pashto Islamia College University of Peshawar

[**] Lecturer Department of Pashto Islamia College University of Peshawar

داسې موضوع سره تعلق لري. چې په پښتنه ټولنه کښې په دغې باندې په هغه زمانه کښې قلم پورته کول خو لويه خبره ده د هغې نوم اخستل هم لوے جرم ګڼلے شو. ځينې جبلتونه چې د انسان په خټه کښې اغږلي شوي دي. په هغو کښې يو جبلت د "جنس" هم دے. او دا خواهش کله کله دومره شدت اختيار کړي چې زمونږ معاشرتي ټولې پولې او بندېزونه وشلوي.

بانو بي بي هم دغه انساني ضرورت د دې دريو واړو افسانو موضوع ګرځولې ده. په دغه موضوع په نورو ادبياتو کښې خو د دې نه وړاندې هم ليکل شوي دي. لکه مِلر چې د يورپ افسانه نګار دے. چې پرې د فحاشۍ الزام لګېدلے دے. د دۀ په افسانو کښې جنسي ازادي وه.دغه مثال د فرائډ هم دے.

په هندوستان کښې منټو هم دغه قسمه افسانې ليکلې دي. بانو بي بي د عصمت چغتائي لحاف نه متاثره ښکاري. همدغه شان دغه جنسي "سپوکېشن" Suffocation د سماجي قدغن او پابندۍ نه پېدا کېږي. بيا د دې په ردِ عمل کښې مزاحمت او هم د دې نه "جنسي مرض" پېدا کېږي. زمونږ په پښتنه ټولنه او کورونو کښې هغه پېغلې جينکۍ چې د وادۀ کولو کور ته رسېدلي وي. او وادۀ کوي ئې نه. يا لکه څنګه چې هلک بلوغت ته ورسي. او د خپلې جنسي تندې سړولو د پاره غېر معروف لارې او طريقې اختياروي. چې د هغې نه زمونږ اسلام او نۀ پښتو اجازت ورکوي. او د دې په ردِ عمل کښې ډېرې سماجي او معاشرتي مسئلې رامخې ته کېږي. چې د معاشرې د بربادۍ سوب وګرځي.

هم د دغې دريو واړه افسانو په "ټرائي اېنګل" کښې وړومبۍ افسانه د "شوې پاڼه" ده.

د "شوې پاڼې" په کردارونو کښې شمو، شيرينو، ګلابۍ، فېروز ماما، نوروز،قېشبرو، جواد او بلبله ببو دي. په دېکښې لوستونکيو ته دا فېصله کول لږه ګرانه شي. چې د دې افسانې مېن کردار شېرينو ده که شمو. بهر کيف شمو د شېرينو د ماما لور ده. چې د خبرو او کار دواړو تېزه، چسته اوچالاکه ده. شېرينو په ښار کښې د سړو په دفتر کښې نوکري کوي. چې په هره دوېمه خبره ورته شمو د دغې پېغور ورکوي. فېروز ماما د کلي مخوريز، دنامې جامې د ډېر جائيداد او دوتر خاوند وي. مېلمه دوست هم وي. خو هاغه د زړو خيالاتو او زوړ کور خاوند وي. نوروز چې د فېروز ماما ايکې يو نيازبين زوئے وي. چې په کالج کښې ئې سبق وئيلے وي. خو نوکري نۀ کوي. د خپل پلار د جائيداد سمبالخت او دکلي غم ښادي کوي. د دۀ کردار او خبرې ډېرې نېچرل وي.

په دې افسانه کښې بانو بي بي علامتي ژبه په ډېر ښکلي شکل کښې په جنسي انداز کښې وړاندې کړې ده.

"د شوې پاڼه" د بانو د نوي دور افسانه ده. او په دې افسانه کښې د شمو کردار د ښائسته کردار نګارۍ يو سپېځلې نمونه ده.

د شمو کردار د روايتي پښتني چاپېرچل په بند ېزونو کښې راګېر شوے. د يوې داسې پېغلې کردار دے. چې د ساه ډوبۍ په کېفيت کښې مبتلا وي. او د ماحولي بندېزونو دي ساه ډوبۍ چې هغې ته کومې نفسياتي کشالې او عارضې راوړاندې کړې وي.شمو په شعوري طور د هغې نه د تېښتې او فرار لارې لټوي. هغه د ماحول خلاف بغاوت کوي. خو دا بغاوت بر ملا او ډاګيز بغاوت نۀ وي. دا د حيا په پړده دننه يو خاموشه احتجاج وي. او د خارجي فضا او داخلي کېفياتو تر مېنځه يو نۀ ايسارېدونکے طوفاني کشمکش وي.

"د شمو د کردار بنيادي مسئله يوه جنسي مسئله ده. او د يوې ښځې له قلمه چې د ښځې د کردار په دې اړخ باندې په ډېر فطري رنګ کښې څۀ ليکلي شوي دي. هغه د پښتو افسانې په تاريخ کښې يو اجتهادي قدم دے."1

د بانو بي بي د " ژوندي غمونو " د اکثرو افسانو مرکز هم دغه د ښځې ذات دے. او د دې د افسانو "تهيم" هم دغه د ښځو د مسئلو سره تعلق او تړون لري. په دې کښې د ښځې د ذات سره تړلې ټولې مجبورۍ او هغوئ سره چې د سماج له اړخه کوم ظلم او زياتے کېږي. هغه پکښې په ګوته شوے دي. بانو بي بي چې کله د ښځو لهجه بيانوي. نو ډېره ښکلې ئې بيانوي. خو چې کله د سړو په بابله خبره کوي. يا روز مره محاوره ليکي. نو بيا پکښې تيندک خوري. خو بهر حال د دې په افسانو کښې جنس د مقصد سره تړلے دے.

او خپل مقصد ئې ډېر په رومانټک انداز کښې وړاندې کړے دے. دغه مقصد ښاغلي اسير منګل صېب داسې پېش کړے دے.

د "شوې پاڼه" د بانو يوه بله جنسي لنډه قيصه ده. دلته يو شته من پلار په دې پوهېږي چې هغه د خپلې لور وادۀ څنګه او چا سره وکړي. او هغه هاغه چا نه خپل زوم جوړولو ته تيار نۀ وي چې کوم د دۀ نه په سيالۍ کښې کم کوز وي.

دغسې شمو د خپل ژوند ملګري په ارمان نفسياتي رنځوره شي. او په څه نه څۀ طريقه خپل ارمان تر سره کوي.

"لنډه کيسه د Hetro Sexuality نمائندګي کوي. په پښتو کښې د خپل قسم زما په خيال دا وړومبۍ افسانه ده. چې په دې موضوع ليکلې شوې ده."2

"د شوې پاڼه" افسانې ژبه او لهجه ډېره اورېجنل ده. روزمره او محاوره ئې هم پکښې ډېر په ښکلي انداز کښې ځائے کړې ده. د مکالمې خوند او ذائقه پکښې هم شته .

خو په دې افسانه کښې بانو بي بي د کلي وال کلچر سپېڅلتيا ټارګټ کړې ده. حالانکې په کلي کښې په سؤونو پېغلې داسې وي چې ډېر سپېڅلے ژوند تېروي. او په ښار کښې په زرګونو ښځې د دې برعکس وي.

د مادي ژوند ټولې تقاضې په ښار کښې پوره کېږي. او په کلي کښې د روحاني ژوند تقاضې، په ښار کښې ټول سهولتونه موجود وي. انسان د غار نه کلي ته، د کلي نه قصبې او بيا ښار ته راووتو. د ښار ژوند مصروفه وي. او په کلي کښې د خلقو سره وخت ډېر وي. سکون او آرام وي. د يو بل په غم ښادۍ خوشحالېږي او خفه کېږي. خو د دې په نسبت په ښار کښې د کار روزګار ذرائع ډېرې وي. د پښتنو په کلو کښې مډل او اپر کلاس خلقو ته عزت حاصل وي. ځکه خو کمزوري خلق ښار ته مخه کوي. دا هم ده که په کلي کښې يو غريب سړے اوچت افسرهم شي. خو هغه عزت ورته نهٔ وي حاصل. د انګرېز په دور کښې هم عامو پرېوتو خلقو ته باعزته روزګار نهٔ ورکېدو. باچا خان په صحي معنو کښې دغه خلقو ته عزت ورکړو. ځکه چې د هغوي زيات ملګري په کلو بانډو کښې وو. د هغوي ذاتي نر توب ئے په قامي نر توب کښې بدل کړو. د بانو د افسانې مشن هم دا دے چې دکليو نه زنانه راوباسي او ښار ته ئې راولي. پښتنه ټولنه کښې تنور شريک، ګودرونه او مېلې شريکې. خو بانو بي بي د تصوير يو اړخ راغستے دے. داسې لګي لکه چې په يوه سترګه ئې لاس اېښودے دے. د بانو بي بي په افسانه کښې تهذيبي

رنګونه نشته. که چرته ئې د کلي رنګ ته کتلي هم دي. نو د ښار چشمې ئے ورته اچولي دي. په کلو کښې غم ښادي، مړے، ژوندے، روغ رنځور په ډېره ښکلې طريقه کېږي. تر دې چې مړے لحد ته کوزول او تر اخري خدمت پورې د کلي خلق کوي. د غم د کور مېلمانۀ خپل پردي ټول د کلي خلق سمبالوي. خو ددې په نسبت د ښار خپل خلق هم د خپل مړي نه لرې ناست وي. په نوي دور کښې په کلو کښې تعليم عام شو. خو بيا هم تهذيبي رچاؤ پکښې هم شته. په کلو کښې زنانۀ ته زيات عزت حاصل دے. بانو بي بي ته پکار دي چې د خاندانونو په مظلومتيا افسانې وليکي. په روايتي او جديد ژوند کښې ښځې ته اهميت او عزت حاصل دے. په کلوکښې اوس هم د کور دغه يوه اکائي بچ پاتې ده. ګنې په ښار کښې خو ځان ځاني ده. يو خوا که د پښتون بې کلي ژوند نۀ کېږي. خو د ښار نه ئې رغبېدن هم نۀ کېږي.

کخے:

کخے افسانه د تېرې افسانې د تسلسل يوه اهمه کړۍ ده. دا هم په جنس ليکلے شوې افسانه ده. د دې افسانې مرکزي او ټائټل کردار کخے، چې خپل نوم ئې ضوطه خان دے. رو رو ضوطے او بيا د خانانو د بره ملک کخے شو. خو د کلي وړو به ترېنه په غلا ګني ماتول. او دے به اکثر اودۀ پروت وو. بيا خان کاکا خپلې حجرې ته راوستو. چې دکور په ډيوډۍ کښې به ناست وو. د کور خبر بهر ته او د بهر خبر په ئې کور ته راوړلو. د خان پرې ځکه باور وو چې دے د دنيا د نرخه نۀ وو خبر.

په دې افسانه کښې خان کاکا، چې په خواوشا کلو کښې خپل ثاني نهويني. په دې وجه لوېه نۀ ودوي. او ځامنو ته ودونه هم نۀ کوي. ګوچې مشرې ځوي ته وادۀ کړے دے. ځکه چې د خپل اولاد نه علاوه ورته نور

څوک شریف نهٔ ښکاري. ډېر سخت ګېر طبعیت لري. عن چې په کور کښې د نارینۀ نه علاوه ټېلي فون ته بل څوک نزدې هم نهٔ شي ورتلے. په رېډیو او ټېلي ویژن به هغه پروګرام د کور خلق اوري او ګوري. چې د کوم اجازت خان کاکا ورکړے وي. سجاد چې د خان کاکا ځوئے دے. او بل رور ئې هم شته. چې هغه د سجاد نه مشر دے او په فوج کښې نوکر دے. ټېلي فون هم د هغهٔ له وجې لګېدلے دے. د خان کاکا پینځه لونه دي. خو یوه ئې هم نه دهٔ واده کړې. سجاد په ښار کښې په کالج کښې سبق وئیلے دے او د دې افسانې راوي د سجاد د کالج ملګرے او سبقي دے. چې په عدالت کښې وکیل دے.

زرو بي بي د خان مشرۍ لور چې د کخي سره ئې لاړ چار وي او خېټهٔ ئې شوې وي. خو د خان شک د هغوئ په کوچوان کړي وي. څوک چې د خان د کور زنانه مړې ژوندې د پاره د کور نه بهر خپلو خپلوانو کره په ټانګه کښې بیائي. خو د پردې دومره کلک انتظام شوے وي. چې د ټانګې نه د خامتا غټې غټې څادرونه چاپېره وي. خان کرمے پخپل لاس ووژي او ټوټې ټوټې ئې سیند کښې واچوي او خپلې لور زرو بي بي ته د ښار نه ډاکټر راوغواړي. او د زهرو ستن ورته ووهي.

د دې افسانې یو بل کردار کرمے چې د خان کوچوان دے. او د خان آس "نیلے" ئې ډېر په مینه ساتلے دے. دغه کوچوان ژوندے جاړ غائب شوے دے. خان د خپلې لور سره په غلط اقدام وژلے دے. دے د خان د مودو مودو کوچوان وو. خان د هغهٔ په ورکېدو تانه کښې رپورټ هم درج کړے دے. او د هغهٔ د ژوندي یا مړ خبر ورکوُنکي ته پنځهٔ سوه روپۍ ورکولو اعلان هم کړے دے. خو عجیبه اتفاق دا شوے وو چې د خان د پېغلې

لور د مرګ او د کرمي د ژوندي جاړ غائبېدو تر مېنځه د هفتې نيمې فرق وو. خان د خپلې لور د مرګ نه زيات په هغه پسې خفه او زهير وو.

بصري د خان د کور پېغله نوکره وي. او د خان د لاسه د بچې مور کېدونکې وي. خو چې هغه د خان ښځې ته خبره ښکاره کړي او خان ته پته ولګي نو په هغې سرۀ کړې تېل واچوي او وسوزوي. او بيا پرې تېرې لا دا چې اور مړ کولو ته هم څوک نۀ پرېږدي خو بانو بي بي دا ښودل غواړي چې اکثر داسې واقعات شوي دي.

د کخي د جسامت په بابله بانو بي بي ليکي.

> "د کخي خپل يو اندام هم په قابو کښې نۀ دے. ټول وجود ئې جوتې خوري. لاسونه پښې ئې رېږدي. د خُلې نه ئې لاړې څاڅي. پوزه ئې بهېږي. خبرې هم داسې کوي. چې که د رپندو لاسونو او اوګو اشارې ئې ورسره نۀ وے. نو ګوره که څوک ئې په خبرو رسېدے."3

جنس انساني جبلت دے. او د هر نارمل انسان ضرورت دے. چې کومه ټولنه کښې د دې د پاره معروفه لار نۀ وي. نو هغه به غېر معروفه لار اختياروي. د قدغنونو او پابندۍ د وجې نه جنس د خپل اظهار تقاضا کوي. د دغه تندې سړولو د پاره جنسي لوږه په تنهائۍ کښې په بنده زياته حمله کوي. سپل سپاټه او زيبا هنرونه د دې په کمي کښې مدد کؤلے شي. چې تعليم او پوهه راشي. نو بنده څۀ نه څۀ د حېواني جبلتونو نه راوتے شي. دغه جبلتونه د علم په زور کنټرول کېدے شي. کم خوراکونه د لوبو مېدانونه او پارکونه هم د دې په کمي کښې مدد کؤلے شي.

خو په دې کښې لوړه او جنس داسې زور ور جبلتونه دي چې ماشوم په هېڅ نۀ پوهېږي. خو دا دواړه جبلتونه پکښې ځان ښائي. فرائیډ خو تر دې وائي. چې ماشوم ژاړي. او په دۀ لاس ووهي. نو دے چپ شي. ځکه خو اسلام هم وائي چې زر تر زره ورته وادۀ وکړئ. پېغله لور خور د جائیداد یا د خپل ستېټس له وجې په کور کښېنول. په هغه خاندانونو ګذار شوے دے. مطلب دا دے چې په یویشتمه صدۍ کښې د پښتني ټولنې ټولو سرو له خپلې روایتي روئې بدلول پکار دي. او د یوې نوې عمراني معاهدې ضرورت راپېدا شوے دے.

"کخړے افسانه هم د جنس نه چاپېره ګرځي. یو سرمایه دار پلار د خپلې ځوانې جانې لور د یو څوکیدار کردار تر سره کوي. او لکه د کخي د فصل څوکۍ کوي. ولې خلق په پټ پټه ورنه غلا کوي. ځینې شته منوخلقو ته چې خپله سیاله کورنۍ په نظر نۀ راځي. نو هغه بیا په لور قسم قسم بند بزونه لګوي. "کخي" کښې چې کله په یو جینۍ د وادۀ ټولې لارې بندې شي. نو بیا هغه د کور نوکر سره جنسي تعلقات جوړ کړي. دا یو داسې ساده باده سړے وي. چې هډو د چا شک پرې نۀ راځي. چې کله سرمایه دار پلار د دې نه خبر شي. چې د لور ئې ګېډه ده. نو نۀ یواځې خپله لور بغېر تحقیقه ووژني. بلکې په شک کښې خپل یو بل نوکر بې ګناه ووژني. په دې لنډه قیصه کښې د معاشرې هغه ستر ظلم باندې تنقید شوے دے. چې دلته د ښځې جنسي خواهشاتو له مرۍ خپله کولو سره سره بغېر د څۀ

پوښتنې يو بېګناه زلمي د بل په تېس کښې د قتل غونډې
جرم نه ډډه هم نۀ شي کولے."4

## چيلمچي:

دا افسانه د " شوې پانړه" ارتقائي شکل معلومېږي. په کخي کښې هم دا قسمه مضمون او موضوع بيان شوې ده. خو په هغې کښې دومره واضحه او بربنډه خبره نۀ ده شوې.

خو په دې افسانه کشې د يوې ډاکټرې مهتابې د کردار نګارۍ نه زياته د هغې کردار کشي شوې ده. هر کله چې زمونږ په معاشره کښې د پرېوتي او زېلې طبقې جينکۍ اول خو سبق ته څوک پرېږدي نه. او که چرته تعليم حاصل کړي. نو بيا ورته د روزګار موقعې په لاس نه ورځي. او که چرته روزګار هم ورته مېلاؤ شي. نو بيا د خپلو نارينؤ هم پېشه ملګرو د لاسه دومره تکرې وخوري. چې بيا ئې نۀ په کور کښې ځائے وي. نۀ هسپتال کښې او نۀ په سماج کښې خو يوه خبره ده چې دې پخپلو کردارونو کښې حرکت، جرات او حرارت پېدا کړے دے. که هغه تعليميافته وي. که بې تعليمه. خو معاشرې سره په جنګ وي. او د مثاليت تر حده رسېدلې وي.

خو د چيلمچي د ډاکټر مهتابې کردار د دې د نورو کردارونو بر عکس ښودلے شوے دے. ځکه چې هغه د ډاکټرۍ د معززې پېشې باوجود هم ډېره بې لاسو بې پښو ښودلے شوې ده. او خپلو ملګرو ډاکټرانو د لاسه د جنسي هوس ښکار شوې ده. او مثال ئې د يو چيلمچي شي. چې هر څوک پکښې لاړې توکي.

"د زېتون بانو په تحريرونو کښې د خپلې خاورې د مينې
انګازو سره سره د رسمونو او رواجونو په زنځيرونو تړليو
او بېوسه زنانؤ باندې د زور زياتو خلاف د بغاوت ناره هم

> دہ. د خپل چاپېرچل د خورو ورو معاشرتي ژوند د غمونو، دردونو او الميو په زړۀ پورې او اثر ناکه انداز تصوير کشي هم دہ."5

او دغه تصوير کښې خدائے بخښلي اعظم صيب داسې کړې دہ.

> "د بانو په کرداري افسانو کښې "چيلمچي" يو اهم مقام لري. د چيلمچي ډاکټر مهتابه د روان ژوند يو ژوندے کردار دے. زموږ په موجوده معاشره کښې چې د ښځې سره کوم امتيازي سلوک کېږي. او د بي بي حوا لور ته چې د هغې زامن په کومه سترګه باندې ګوري چيلمچي کښې د هغې ډېر ښکلے تصوير پروت دے."6

هسې خو د ډاکټرۍ پېشه د مهتابې د ورکوټوالي نه خوښه وه. او کله چې به ئې ګوډاګو سره لوبې کولې. نو د خپلو او د سُهېلو د ګوډاګو علاج به ئې لکه د يوې ډاکټرې پشان کولو. دوئ په کلي کښې وسېدل. او پلار ئې په کلي کښې د علاج او ډاکټر نه موندو له کبله مړ شوے وو. دغه ټولې خبرې د دې د ذهن په نقشه تتې شان نقش وې.

او بيا چې کله هغه سرجن ډاکټره شوه. او په اپرېشن تهېټر کښې مردانه مريض نشه کړو. نور کله خو به د دې زړۀ ډېر کلک وو. خو نن پرې خلافِ معمول رپندے ولګېدو. رنګ ئې زيړ شو. او په باقو سر شوه. د اپرېشن تهېټر نه ئې منډه کړه. خو ډاکټر بلوچ د اورآل نه ونيوله او اپرېشن تهېټر ته ئې په زور واپس کړه. او دا قصه چې مخ په وړاندې لاړه شي. نو د مهتابې زړۀ په دې وجه خراب شوے وو چې مريض (کريم) په غېر فطري طريقو د جنس د سړولو کار کولو. او په هغې ئې ځان تباه کړے وو. او داسې مرض ورته لګېدلے وو چې هغې ته کتل هم جرم وو.

خو دا ډېره عجيبه او د حېرانۍ خبره ده. چې يوه زنانه ډاکټره د سړي مخصوص عضو څنګه کټے شي. پکار وه چې ډاکټر بلوچ دغه کار پخپله کړے وے. يا ئې د بل نارينه ډاکټر نه مدد اغستے وے.
په دې افسانه کښې يو خو د خيالاتو "تسل" راغلے دے. او بل خوا پکښې د ژبې د صحت، د جملو تکرار او د روزمرې محاورې هم غلط استعمال شوے دے.

"د جنسي اشتهارونو نه مدد اخلي معجونونه خوري. خو چې د دوو دولسو نه اوځي. نو بيا علاج له دلته راشي."7

بانو بي بي د سروس نه هم سمه ټوقه جوړه کړې ده. حالانکې د هر يو سروس د پاره خپل سټرکچر او رولز ريګوليشن وي. په يوه موقع ډاکټر مهتابه او د هغې ورور فتح الرحمان دواړه د سروس نه اوکښې شو. د مهتابې جرم دومره نۀ وو. اردلي ورته پخپلو روپو اګۍ راوړي. په دومره معمولي خبره د سروس نه اوکښل عجيبه لګي. يوخوا خو د اردلي د دروغو په ګواهۍ مهتابه د سروس نه وکښے شوه. د اپيل او ګواهۍ نه پس دوباره بحال کړے شوه. خو اردلي ولې په دروغو کښې د سروس نه اونۀ ويستلے شو.
په هسپتال کښې ډاکټر ډېر پاورفل کردار وي. عام خلق د هغه مخکښې خبره قدرې نۀ شي. کولے. خو دې هېڅ بې هېڅه ډاکټره ګناهګاره کړې ده. مهتابه خو يوه ډاکټره ده او ډاکټر د معاشرې يو پوره انسان وي. خو بانو بي بي دا دومره بې وسه کړې ده. لکه يوه بې سهارې او بې اسرې کونډه وي.

"او مهتابه د عجيبه حالاتو په مېنځ کښې يوائې پاتې شوه. هغه اوس په رښتيا يوائې وه."8

افسانه چې مخ په وړاندې لاړه شي. نو يو ځائے پکښې داسې راشي. چې صادق د هغې نه د هغې د تېر ژوند په بابله پوښتنه وکړي. او دا ورته قصه شي. يوه ان پړه او نالوستې ښځه هم خپلې خامۍ او کمزورۍ نه ښکاره کوي. نو بيا خو مهتابه يوه ډاکټره وه. نو هغې داسې قسمه خبرې څنګه کولے شوې. او بيا د هسپتال اردلي سره وادهٔ خو ډېر ناشونے کار دے.

"او د دواړو جسمونو د جذباتو په شور زوګ کښې چې صادق په پس پسې کښې د مهتابې نه د هغې د تېر ژوند د تجربو تپوس وکړو. نو هغې ورته د خپلو ګنډلو زخمونو تړولې بخۍ يوه يوه وسپړدله. 9

بهر کيف نور هم په دې افسانه کښې ډېر ځايونه داسې شته چې خبره پړې کېدے شي. خو بانو بي بي چې ډاکټري سره دومره ناکړدې کړي دي. مقصد صرف دا دے چې دې سره د خلقو همدردي پېدا کړي. د دې په افسانو کښې چې کوم څيز بل په نظر نهٔ راځي. نو هغه دا دے چې په طبقاتي سماج باندې پکښې نېغ په نېغه نيوکه نشته. د دې افسانې اصلاحي دي. خو انقلابي نهٔ دي.

چيملچي کښې که يو خوا افسانه نګارې د سړو په معاشره کښې په سړو طنز کړے دے. او ښځه محض د جنسي تسکين يوه آله ګڼي. او د انسان يا يوې پښتنې په حېث ورته نهٔ ګوري. خو چې لاس ئې بر کېږي. نو وربانديې لوبې کوي. نو بل پلو ئې د ښځو پام په دې لړ کښې ډېرو اهمو نقطو پلو راګرځولے دے. څنګه چې يو شاعر په شاعرۍ کښې د "پوئيټک جسټس" (Poetic Justic) مظاهره کوي. نو دغسې دې هم د "لټرېري جسټس (Literary Justice) مظاهر کړې ده. په اردو افسانه کښې چې په منټو د فحش نګارۍ الزام لګېدلے دے. او هغه د هندوستان غوندې زيات ترقي يافته سماج کښې د يو سړي په حېثيت پخپلو قصو يا افسانو کښې کوم باغيانه کردارونه تخليق کړي دي. يا ئې د انسانانو د

خېټو نه لکه د يو ماهر سرجن ټول غلاظتونه بهر را ايستي دي. نو هم دغه شان بانو بي بي په يوه نيم قبائلي ټولنه او پسمانده سماج کښې د خپل ماحول مطابق د خپل کلتور د سپين څادر لاندې پټ تور کردارونه ډېر په هُنر او بې باکۍ سره راښکاره کړي دي. او د دغه څادر راښکلو په وخت کښې ئې د دې خبرې هم څۀ پروا نۀ ده کړې. چې هغه پخپله هم د دغه نيم قبائلي سماج يو کمزورې زنانه ده. او چرته داسې او نۀ شي چې د دغه څآدر راښکلو په وخت ئې پخپله سپينه جامه داغ ولګي. او دا ځکه چې دغه وخت کښې په يوه پښتنه قلمکاره کښې لکه د سقراط يو حق پرست او رېښتوني کردار غزونې کړي دي. او د زهرو پياله ئې په غړپ ګوټلې ده.

# حوالې او حاشيې


1. اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردار نګاري، پښتو اکېډيمي، پېښور يونيورسټي، چاپ اول ځل، ۱۹۹۳ء، ص ۲۸۲
2. اسير منګل، د پښتو افسانې سل کلن بهير، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، چاپ وړومبے ځل، اکتوبر ۱۹۹۳ء، ص ۹۲
3. زېتون بانو، ژوندي غمونه، يونيورسټي بک اېجنسي پېښور، درېم چاپ، جولائي ۲۰۰۴ء، ص ۱۳۱
4. اسير منګل، د پښتو افسانې سل کلن بهير، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، چاپ وړومبے ځل، اکتوبر ۱۹۹۳ء، ص ۹۲ - ۹۷
5. همېش خليل، پښتانۀ ليکوال، دوېم ټوک، يونيورسټي پبلشرز قصه خواني بازار پېښور، اشاعت وړومبے، کال ۲۰۱۱ء، ص ۱۲۳
6. اعظم، محمد اعظم، ډاکټر،پښتو ادب کښې کردار نګاري، پښتو اکېډيمي، پېښور يونيورسټي، چاپ اول ځل، ۱۹۹۳ء، ص ۲۸۲
7. زېتون بانو، ژوندي غمونه، يونيورسټي بک اېجنسي پېښور، درېم چاپ، جولائي ۲۰۰۴ء، ص ۱۵۷
8. همدغه اثر، ص ۱۷۷
9. همدغه اثر، ص ۱۸۲